# الهندوسية في ميزان تعاليمها الأصلية والعقل والفطرة السليمة

# هندويزم د خپلو اصلي تعليماتو، عقل او سالم فطرت په تله کې

## هندويزم د خپلو اصلي تعليماتو، عقل او سالم فطرت په تله کې

پوښتنه او ځواب

دکتور. هيثم طلعت

بسم الله والحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومَن والاه، أما بعد:

هندويزم کيدی شي يو دين وي، خو په ډير کره تعريف سره دا : د ژوند کولو يوه تګلاره ده.

د هندويزم پيروان د نړۍ د نفوس شاوخوا 15٪ جوړوي او د پيروانو شمير يې له يو مليارد او دوه سوه مليون څخه ډير دي.

هندويزم د وخت په تيريدو سره ډير بدلون موندلی دی...

هندويزم د ويداس Vedas له زماني وروسته له عقلي، علمي او فطرتي ستونزو څخه ډک شو، چې ځينې به يې په دې کتاب کې تر څار لاندې ونيسو.

هو !

په ريښتيا سره چې هندويزم د اصلي ويدات (د هندويزم اصلي سرچينې) له تعليماتو څخه په ګړندۍ توګه وتلی او د خلکو ، مراسم لمانځوونکو او بهګواد ګيتا تعليمات يې تعقيب کړي.

भगवद्गीता Gita Bhagavad باطني تنترونه .Tantras

زه به پدې کوچنی کتاب کې هڅه وکړم چې اوسنۍ هندویزم د استدلال، عصري ساینس، منطق او د ویدات د اصلي تعلیماتو - چې تر دې دمه د هندوانو په لاس کې دي - قضاوت ته وړاندې کړم، او زه ډاډه یم چې د حقایقو پاتې شوني چې په ویداتونه کې دي، او هغه چې لا د هندوانو په فطرت کې دي دواړه د دې لپاره بسنه کوي چې په سلامتیا سره هندو حق دین ته ورسوي.

ویداتونه: د هندویزم ترټولو مقدس کتابونه دی.

طبیعي فطرت: د انسان په شتون او د هغه په برخلیک کې نظر اچولو ته لیوالتیا، او پر الله تعالی د ایمان راوړلو لپاره د دې لوالتیا رهبري کول او د هغه عبادت کول په هغه څه چې هغه روا کړي دي.

او حقیقي دین: هغه پیغام دی چې په ویدا کې د حقیقت پاتې شوو ته شامليږي، او دا د فطرت اواز دی، او دا د ټولو مخلوقاتو لپاره د الله - تعالی- وحې ده، او دا هغه غږیز پیغام دی چې د اوانیشاد (Upanishad उपनिषद्) په لارښوونو کې د الله تعالی د یووالي اغیزې بیانوي.

په دې کوچني کتاب کې زه هڅه کوم چې د ویدا د زمانې هندویزم او نننی هندویزم تر منځه یوه ساده مقایسه وکړم!

په رښتیا چې هندویزم ډیر بدل شوی دی...

یقیناً چې - نننی - هندویزم د ویدا د نورو صافو او سوتره توحیدي تعلیماتو څخه ډیر لرې دی، په نننی هندویزم کې به تاسو د وجود په یووالي باور وموميُ چیرته چې خالق د

مخلوق سره ګډ دی، نو مخلوق عین خالق جوړیږي، دا حیرانونکي عقیده نه یوازې د ویدانو له ښکاره تعلیماتو سره په ټکر کې ده، بلکې د عقلي منل شوو - اصولو - سره هم ټکر کې ده، ځکه څرنګه کیدلای شي چې خدای په هر شي کې ګډ شي، بیا ته اې هندو ، د یو لړ رسمونو او عملونو په تر سره کولو سره هغه ته د رسیدو په لټه کې یې، حال دا چې هغه په اصل کې په تا کې شتون لري؟

آیا دا ښکاره عقلي ستونزه نه ده؟

سربیره پردې، د وجود په یووالي عقیده د حقیقت نسبي کیدو ته بلنه کوي، ځکه ټول هغه دینونه چې د بتانو یا تیرو عبادت کوي هغه په واقعیت کی د الله تعالی عبادت کوي، ځکه چې د دې عقیدې له مخې الله تعالی بت او ډبره ده، نو الله تعالی په هر څه کې دی او هغه هرڅه دی.

او د حقیقت دا نسبیت معنا او ارزښت له منځه وړي، چې زه به دا په کتاب کې تشریح کړم.

تېرو خبرو ته دا هم وراضافه کړه چې ویدا په ښکاره ډول له مخلوق نه جلا یو خدای باندې ایمان لرلو ته بلنه ورکوي، دا مخلوقات الله پیدا کړي دي، او په مخلوق کې د خالق د اوسیدو ظرفیت نشته چې پکې ورګډ شي.

ویدا، په ځانګړې توګه په رګ ویدا ऋग्वेद کې وايي: "اې الله! لمر او نړۍ دواړه د دې توان نلري چې تاسو احاطه کړي او - ځان - کې مو ځای کړي"[1].

دا د ویدا لخوا څرګند ثبوت دی پدې چې د وجود په یووالي باور غلط دی، ځکه چې الله د خپل مخلوق څخه خپلواک دی.

په اوسني هندویزم کې تاسو د روحونو په لیږد باور مومئ چیرته چې د مړینې وروسته د انسانانو روحونه نورو مخلوقاتو ته لیږدول کیږي ترڅو په نوي ژوندي موجود کې بیا وزیږیږي،- د دې باور له مخې - هر انسان مخکنی ژوند په بل ژوندي موجود کې درلوده او داسې نور، او دا عقیده ډیرې ستونزې رامنځته کوي، ځکه که چیرته د روحونو لیږد ریښتیا وي، نو بیا ولې ماشومان د لویانو په څیر د ذهني وړتیاوو سره نه پیدا کیږي[2]؟

سربیره پر دې، د روحونو د انتقال عقیده د تکراري زیږونونو په ترتیب ولاړه ده، نو دا څنګه - خبره - ده، حال دا چې معاصر ساینس ثابته کړې چې ژوند پیل لري، او ځمکه پخپله پیل لري او ابدي نه ده.

بیا، که د روحونو لیږد ریښتیا وي، نو دا فرض کیږي چې د ژوندیو موجوداتو شمیر ټاکل شوی او محدود دی، ځکه چې

---

1 http://stholistic.com/prayer/hindu/hol_hindu-samsara-and-karma.htm (دا سایټ د بودایی مجلې سره تړلی دی چې د بودیزم او د هغې د رواجونو په اړه ادراکي څیړنې وړاندې کوي).

2 Cogan, Robert. (1998), Critical Thinking: Step by Step, University Press of America, pp. 202–203.

دوی په خپلو کې یو بل ته لیږدول کیږي، او دا هغه څه ندي چې ننی انسان یې وایي!

او لدې مهمه دا ده چې ویدا د روحونو د لیږد نظریه نه لري، تر دې چې یو هندو عالم شري ستیاکم ودیالنکار وایي: "د بیا زیږون عقیده په ویداس کې نشته، او زه هغه څوک ننګوم چې دا خبره کوي"[1]

د ودیالنکار د خبرو د صحت تر ټولو ښه ثبوت دا دی چې هندوان د "شرادها (Śrāddha श्राद्ध") په نوم پخوانی مذهبي رسم ترسره کوي، او د دې رواجونو موخه : د مړو روحونو ته سکون وربخښل دي.

نو روحونه څنګه لیږدول کیږي حال دا چې دوی د مړو روحونه ارامول.

د هندویزم له اوسنیو عقیدو څخه یو هم په (کرما) باور دی: کرما، د کرما د باور له مخې لکه څنګه چې انسانان د خپلو پخوانیو اعمالو په پایله کې زیږیدلی، نو څوک چې فاسد وي په بل نوي ژوند کې به په ټیټه طبقه یا لوی مصیبت کې زیږیدل کیږي.

نو پر دې اساس، هندوان ناروغ ته د هغه چا په سترګه ګوري چې په تېر ژوند کې یې ګناهونه کړي وي، او دا ناروغي یې د هغې ګناهونو پایله ده، نو دا غلطه او ذهن ګډوونکې انګیرنه ټول ژوند فاسدوي ځکه دا انسانیت ته هیڅ

1 اوکمان، 104 مخ، : اسلام ته د هندوانو بلنه، 99 مخ، له کتاب څخه نقل شوی.

خدمت نه وړاندې کوي، بلکه پرېکړه کوي چې په خلکو کې ناوړین په مخکني ژوند کې د تېرو جرمونو طبیعي سزا ده، او دا د وروسته پاتې، بې عدالتۍ او طبقاتي پخلاینې یو ډول دی.

خو لویه ستونزه دا ده چې: په ویدا کې د کارما دغه عقیده چیرته ده؟

ویداتونه ښکاره وایې چې جنت او دوزخ شته چې الله یې خلکو ته د هغوی د عملونو پر اساس ورکوي، داسې نه چې په نورو ځارویو کې - د روح - نوي زیږونونه تر سره کیږي.

رګ ویدا وایي: "ما په هغه ځای کې ابدي کړه چیرته چې هر ډول خوښۍ او خوندونه زیرمه شوي، او چیرې چې تاسو هغه څه ورکوئ چې نفسونه یې غواړي".[1]

په اوسني هندویزم کې له بنسټیزو باورونو څخه: له تکراري زیږونونو او د روحونو د لیږد - له مفکوري - څخه د خلاصون هڅه او هغه مرحلې ته د رسیدو لپاره چې د "موکشا Moksha मोक्ष " په نوم پیژندل کیږي، په کوم کې چې انسان د الهي ذات سره یو ځای کیږي، مګر دا مفکوره د وجود په اړه په بشپړ ډول پر بدبیني لید ولاړه ده، ځکه د وجود هدف د وجود څخه د خلاصیدو هڅه ګرځیږي!

دا مفکوره د ټولنې لپاره خطرناکه ده، ځکه چې دا انسان له ډار څخه خلاصوي، هغه که هر څومره ناوړه کارونه وکړي،

[1] رګ ویدا، منډیل: ۹، سوکت: ۱۱۳، منترا: ۹-۱۱.

هغه به بیا وزیږیږي، او یوه ورځ به خامخا په راتلونکي زیږون کې وژغورل شي.

دا کار په بشپړه توګه د ویدا ګانو د تعلیماتو سره مخالف دی کوم چې ظالمانو او ګناهکارانو ته په خپل خپل ځای کې په سزا ورکولو صراحت کوي، لکه څنګه چې رګ ویدا وایي: "ډیر ژور ځای دی، د ګناهکارانو لپاره؛ بیخ یې ډیر ژوردی".[1]

نو دا ځای د تکراري زیږونونو له مفکورې څخه چیرته دی؟

او د هندویزم ترټولو مشهورې اوسنۍ علمي ستونزې په لاندې ډول دي: په طبیعي توګه د کائناتو رامنځته کېدو ته کتنه، اوسني هندویزم فکر کوي چې کاینات منحل کیږي او بیا شکل غوره کوي او دا لړۍ پای نه لري، نو دا یوه عجیبه علمي غلطي ده چې د عصري ساینس سره په ټکر کې ده.

دا په بشپړه توګه ثابته ده چې عصري ساینس وایي چې دا کاینات یو مطلق پیل لري داسې چې لدې وړاندې نورو کائناتو شتون نه درلود.

د علم له لحاظه کائنات پیدا شوي... بغیر د کوم مخکني نمونې څخه جوړ شوي دي.

په همدې مناسبت، دا هماغه باور دی چې په ویدا کې شتون لري، د ویدا له نظره

1 رګ ویدا، منډل: ۴، سوکت: ۵، منترا: ۵.

د دنیا ژوند ناڅاپه راڅرګند شوی، او آخرت هم شتون لري، خو د هندویزم په فلسفو کې چې وروسته رامنځته شوې لکه پوراناس Puranas ، چې پکې د نړۍ د تکرار او ابدیت خبره راڅرګنده شوې ده.

ننی هندویزم د ویدا د عقیدې، د معاصر علم او د اسلام د هغه دین مخالف دی چې ویدا لخوا منل شوی حق دی.

د مسلمانانو عقیده چې الله پاک په قرآن کریم کې نازل کړی دا ده چې کاینات پرته له مخکینۍ نمونې څخه څرګند شوي لکه څرنګه چې الله - تعالی - په خپل کتاب کې فرمایلي دي: {بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ} البقرة سورت ﴿١١٧﴾. (بې له نمونې پیدا کوونکی د آسمانونو او ځمکې دی، او کله چې د کوم کار فیصله وکړي، نو همدا خبره ده چې هغه ته ووایي: "وشه" نو هغه وشي)

د اسلام له نظره کائنات پیدا شوي دي، یعنې: له پخوانۍ بیلګې پرته راڅرګند شوي دي.

دا هغه څه دي چې ساینس ورته رسیدلی او هغه څه چې 1400 کاله مخکې د یو سړي لخوا پرې خبر ورکول شوی و چې رمه یې پیوله او محمد بن عبدالله نومیده؛ نوموړی د الله رسول او د اسلام پیغمبر و.

پدې کتاب کې زه د ډیری هغه ستونزو په اړه بحث کوم چې هندویزم ورسره مخ دي، او په مقابل کې نړۍ ته د ژوند، ثواب، عذاب او د وجود د مقصد په اړه اسلامي لید لوری وړاندې کوم، کوم چې په بشپړه توګه د ویدا له پاتې شوو او د فطرت سره سمون لري.

او دا تشریح کوم چې اسلام د انسان د اړتیا لپاره د ځواب ویلو ترټولو کره، معتبره او پیاوړې نمونه ده، تر څو د ژوند کولو په څرنګوالي پوه شو، او د انسان د شتون، او له شتون څخه یې د مقصد په مفهوم باندې پوه شو، پداسې ډول چې له فطرت، عقل او ساینس سره مطابقت ولري.

او دا کتاب د اسلام پر صحت ځینې دلیلونه وړاندې کوي، او هغه زېري چې د ویدا لخوا پدې دین سره ورکول شوي دي، ځکه ویدا په اسلام او د الله پر رسول؛ محمد - صلی الله علیه وسلم - باندې زیری ورکړی، او هندوان یې پرې ایمان راوړلو ته رابللی دی.

او اسلام یوازې د ځمکې پر مخ له دینونو څخه یو دین ندی؛ بلکه دا هغه یوازینی توحیدي دین دی چې الله - تعالی - پرې ټول پیغمبران رالیږلي دي، ځکه ټول پیغمبران د دې لپاره راغلي چې خلک توحید ته راوبلي، او نن ورځ پدې سپیڅلي توحید پرته له اسلام څخه بل یو دین هم پاتې ندی، پداسې حال کې چې نور پاتې دینونه په شرک کې لړ او یا ډیره ونډه لري.

او الله - تعالی - له بشریت څخه له اسلام پرته بل دین نه قبلوي، الله - تعالی - په خپل کتاب کې فرمایلي دي: {وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ} ﴿آل عمران سورت ۸۵ آیت﴾ (او څوک چې له اسلام نه غیر (بل) دین غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانیانو څخه دی).

نو اسلام هغه دین دی چې الله - تعالی - پرې ټول انبیاء او رسولان رالیږلي دي.

او د اسلام اصلي ځانګړنه دا ده چې پدې کې الله تعالی ته د تسلیمېدو او یوازې د یو الله د عبادت معنا پرته ده، او په بتانو او مجسمو کې یې د الله - تعالی - هر ډول ځای پر ځای کېدل نفي کړي دي؛ لکه څنګه چې په اوسني هندویزم کې دي.

بیا کتاب په دې خبرې سره پای ته رسیږي چې څرنګه یو سړی الله - تعالی - ته غاړه ږدي ( مسلمانیږي)، او د اسلام معنا او اسلام ته اړتیا بیانوي.

نو راځئ چې د الله په برکت د کتاب سفر پیل کړو ...

## ۱ - هندویزم څه شی دی؟

هندویزم: دا یو دین دی، یا په صحیح معنا : "د ژوند یوه لار" ده، چې پدې کې یو شمیر رسمونه، دودونه، عبادتونه، سپیڅلي کتابونه، او - یو شمېر - کائناتي او وجودي مفکورې شاملې دي.[1]

هندویزم د ډیرو پیړیو په اوږدو کې د پیچلو مذهبي غونډو له لارې رامنځته شوی چې متنوع او ځینې وختونه متضاد عقیدوي سیستم ته مشروعیت ورکوي، او اوسنی هندویزم پدې کې هیڅ بشکیل ندی، ځکه ننی هندویزم یوه عقیده، یو مرجع او یا یو لازم شوی متن نه لري چې په پر مټ یې قضاوت وکړای شي.

که څه هم ویداتونه Vedas په مطلقه توګه د هندوانو تر ټولو سپیڅلي کتابونه دي، مګر هندوان یې په حیرانوونکي توګه مخالفت کوي؛ لکه څرنګه چې مونږ به پدې کتاب کې

---

1 د هندویزم مطالعه، اروېند شرما (نا ژباړل شوی).

ورته اشاره وکړو، نو هندوییزم د ویدا په مخالفت سره، متفاوت افکار او یو له بل څخه لرې نظریات مني چې د لومړي ویداتونو له دورې سره هیڅ تړاو نلري.

هندویزم په تولیزه توګه له مصیبتونو څخه د خلاصون موخه لري، وروسته به موږ واضحه کړو چې څنګه د دوی په مفکوره کې له مصیبت څخه خلاصون ترسره کیږي، او څنګه دوی د نجات په اړه د ویدا له عقیدې څخه سرغړونه وکړه، په کوم کې چې لا ډیرې حقیقتونه پاتې دي.[1]

### 2- دغه دین څنګه له یو بل سره نښتي پیدا شو؟

هندویزم د هند په معنا ده: د هند دولت، اقلیم، تاریخ، تداخل، او دودونه.

دا په هند کې نږدې یو ځانګړی مذهب دی، چیرته چې د نړۍ شاوخوا 95٪ هندوان شتون لري.[2]

هندویزم د لومړي ویداس په تعقیب رامنځته شو، خو له بده مرغه دا د فلسفې، عقیدې، کتابونو او مفکورو سره یوځای شوه او د پیړیو په اوږدو کې رامنځته شوه، د ویداس د عصر پسې په راتلونکې پړاو کې هندویزم، د هرمیت، باطني تنترونو Tantras او بهګواد ګیتا भगवद्गीता ا تعلیمات تعقیب کړل.

---

1 هندویزم: نظریه او عمل، جینین د. فاولر ( ناژباړل شوی ).

2 http://www.pewforum.org/files/2012/12/globalReligion-tables.pdf

له میلاد څخه وړاندې له 1500 کال څخه تر 500 زیږدیز کال پورې، ډېرى دغه مفکورڅ او فلسفې د ویداس سره په کشمکش کې وې، او تیرې یې پرې وکړې، تر دې حده چې موږ نن ورځ له دې مفکورو او فلسفو پرته نور هیڅ شی نه وینو.

### ۳- په ځانګړې توګه د هندوانو عقیده څه ده؟

ننی هندویزم داسې عقیده ده چې په لوی شمیر خدایانو باور لري، په هندویزم کې بې شمیره خدایان شتون لري، او هندوان بیا هم په یو الله باور لري.

دوی تصور کوي چې خدای په دې ټولو مجسمو کې منحل شوی دی چې دوی یې درناوی کوي.

دلته ښایي ځینې داسې تصور وکړي چې: د هندوانو عقیده په یو خدای - او دا فکر چې دا مجسمې او انځورونه د خدای انځورونه دي - بت پرستي نده!

دا سخته غلطي ده!

دا عقیده لرل چې مجسمې د یو خدای انځورونه دي؛ دا د بت پرستانو د عقیدې اصل دی، هغه عقیده چې د بشریت د تاریخ په اوږدو کې د پیغمبرانو د تعلیماتو او د ویداس له تعلیماتو سره په ټکر کې ده.

ټول مشرکان چې د پیغمبرانو او د ویداس له تعلیماتو سره په ټکر کې دي په الله یې باور درلود، مګر دوی بت د خدای مجسمه ګرځولې وه، د الله په شتون باندې د مشرکانو عقیده او دا چې هغه یو دی له دوی څخه په الله، د هغه په رسولانو او

په ویداس کافریدل نه نفي کوي تر هغه وخته پورې چې دوی دا بتان - په خدایتوب - نیولي وي.

په خدایۍ سره د بتانو نیولو، یا هغوی ته د نږدې کیدو، یا هغوی ته د درناوي کولو په تحریم کې د ویداتونو حکمونه صریح او قطعي دي.

ویدا وایي: "څوک چې له الله پرته د نورو شیانو عبادت کوي چې جوړ شوي دي، نو هغه به په تیارو کې ډوب شي او د مودو لپاره به د اور عذاب وڅکي".[1]

څوک چې نن ورځ دا بوتان - په خدایۍ ونیسي - کوم چې هندو مذهب ورځخه ډک دی نو د ویدا - دیانت - له مخې به هغه تل د دوزخ په اور کې پاتې شي.

ویدا دا هم وایي چې: "د ټولو مالک، د غیبو عالم دی، هغه - ذات - چې د نورو معبودانو مرستې ته اړتیا نلري، هغه الله دی او انسان ته په کار دی چې د هغه عبادت وکړي، او هغه څوک چې له الله پرته نور معبودان نیسي، نو دوی بدبخته دي، تل لوی او ویرونکي مصیبتونه پیدا کوي ".[2]

بلکه، دا په بهاګاواد ګیتا Bhagavad (भगवद्गीता) Gita کې یادونه شوې چې : "هغه څوک چې د خدای عبادت کوي خدایانو ته رسیږي، هغه څوک چې د پخوانیو مشرانو عبادت کوي هغه پخواني لاسته راوړي، څوک چې د شیطان

---

1 جار ویدا، سوکت: ۴۰، منترا: ۹.

2 رګ ویدا، منډل ۱، سوکټ: ۷، منترا: ۹.

عبادت کوي شیطان ترلاسه کوي، او څوک چې زما عبادت کوي هغه ما پیدا کوي".[1]

دا او داسې نور ډیر دلیلونه چې هندوان په ډاګیزه توګه د الله یووالي او د بتانو پرېښودلو ته رابلي، تر دې چې مهارچي ډینند سرسوتی وايې: په ویداتونو کې یو حرف هم داسې نشته چې خلک د بوتانو عبادت ته راوبلي؛ هغه چې له تیرو او داسې نورو شیانو څخه جوړ شوي دي.

په ویداتونو کې هندوانو د توحید عقیده نه ده پریښې مګر په باطلو تعلیماتو سره چې په راتلونکې وروستۍ مرحله کې راغلې ده.

قرآن کریم چې الله تعالی پر خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم نازل کړی دی، د دې خبرې تصدیق کوي چې د بوتانو عبادت کوونکي دا ګمان کوي چې دوی په یو الله ایمان لري، خو بیا هم دوی د دغو بوتانو په نیولو سره کافران دي.

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

{وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّـهُ}

{وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّـهُ}

[او یقینًا که ته له دوی نه تپوس وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي (،نو) دوی به خامخا لازمًا وواېي چې ”الله“]. الزمر سورت ۳۸ آیت.

او الله تعالی فرمایلي دي:

---

[1] بهاګاواد ګیتا 9-25، Bhagavad Gita.

{وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّـهُ}
{وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّـهُ}

[او يقينا كه ته له دوى نه پوښتنه وكړې چې دوى چا پيدا كړي دي (نو) دوى به خامخا وايئ چې ’’الله‘‘] الزخرف سورت ٨٧ آيت.

(په خدايۍ) سره د دې بوتانو نيول د قرآن او ويدا په توافق سره انسان پر الله تعالى كافر ګرځوي.

الله تعالى په قرآن كريم كې فرمايلي دي.

{إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّـهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّـهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِندَ اللَّـهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ}
{إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّـهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّـهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِندَ اللَّـهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ}

(يقينًا تاسو له الله نه غير د بوتانو عبادت كوئ او تاسو دروغ جوړوئ، بېشكه هغه (معبودان) چې تاسو يې له الله نه غير عبادت كوئ، دوى تاسو لپاره د رزق مالكان نه دي، نو تاسو له الله سره رزق ولټوئ او د هغه عبادت كوئ او د هغه شكر وباسئ، تاسو به خاص هغه ته بېرته بيولى كيږئ). العنكبوت سورت ١٧ آيت.

نو د الله سره روزي ولټوئ او يوازې د هغه عبادت وكړئ، ځكه - الله - هغه ذات دى چې موږ ټول هغه ته ورګرځو.

نن ورځ د ځمکې پر مخ له اسلام پرته بل دین نشته چې د الله پر توحید پاتي وي او د شرک ټولې بڼې یې له منځه وړې وي.

لدې امله هر هندو ته په کار دي چې اسلام ته له تعصب پرته په بصیرت سره وګوري، او پدې دین کې د توحید عقیدې ته وګوري چې آیا د ده له فطرت سره اړخ لګوي او همدا رنګه د هغه څه سره چې ویدا پرې و دی، او کنه؟

د ټولو پیغمبرانو بلنه چې الله انسانانو ته رالیږلې هغه د الله - تعالی - یووالی دی په عبادت سره، او دا د ټولو بوتانو په لیرې کولو او هغه څه ته په غاړه اېښودلو سره کیږي چې د الله - تعالی - پیغبرانو پرې راتګ کړی، او هغه څه چې د دوی وروستي یو محمد بن عبد الله - صلی الله علیه وسلم - پرې راتګ کړی.

### ۴ - په هندویزم کې په لسګونو بوتانو سره د یو خدای د استازولی مفکوره څنګه رامنځته شوه؟

د ویداس له زماني وروسته د اوسني هندویزم لویه ستونزه په دې انګیرنه کې ده چې د یو معبود ځو صفتونه د متعددو معبودانو غوښتنه کوي، یعنې دا چې ځو خدایانو ته اړتیا ده.

دوی ګومان کوي چې هر الهي صفت یو بوت لري چې د نوموړي صفت استازیتوب کوي.

نو خالق د دوی په اند:

براهما: د کائناتو پیدا کوونکی دی.

او ویشنو: د کائناتو ساتونکی دی.

شیوا: د کائناتو ویچاړوونکی دی[1]

دا انګیرنه د استدلال او فطرت له محورونو سره تضاد لري او د هغه څه سره په تضاد کې ده چې په ویدا کې دي، ځکه د صفتونو له تعدد څخه د ذات تعدد نه لازمیږي.

ځکه کیدای شي یو انسان هم هوښیار، هم پیاوړی او هم ادیب وي.

نو د صفاتو له تعدد څخه د نوموړي انسان د ذات تعدد نه لازمیږي.

ځکه هوښیار انسان هماغه پیاوړی او هماغه ادیب دی.

او الله - تعالی - لره تر ټولو لوړ مثال دی.

ویدا هم په همدې حقیقت ټینګار کوي، په رګ ویدا کې راغلي دي: "هغه ته اندر، میتر او وایو ویل کیږي، او هغه مترشوا دی. هوښیاران یو خدای په مختلفو نومونو یادوي".[2]

او په ویدا کې د الله - تعالی - د نومونو او صفتونو دلایل ډیر دي.

نو نومونه او صفتونه په یو ذات دلالت کوي.

دا هغه - باور - دی چې لومړي ویدا درلوده، او اسلامي عقیده هم پر همدې بنسټ ولاړه ده، ځکه په اسلام کې الله - پاک - یو ذات دی؛ هغه لره نیک نومونه او لوړ صفتونه دي، الله - تعالی - فرمایلي دي:

---

1 د شرقي فلسفې او مذهب انسایکلوپیډیا، ستیفن شوماکر، ۳۹۷ مخ.

2 رګ ویدا: مندل: ۱، سوکت: ۱۶۴، منترا: ۴۶.

{وَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَـٰنُ الرَّحِيمُ}
{وَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَـٰنُ الرَّحِيمُ}

(او ستاسو حق معبود يو معبود دى، هېڅ لايق د عبادت نشته مګر يوازې هغه دى چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى). البقرة سورت ۱۶۳ آيت.

نو الله - هغه ذات دى - چې مهربان دى او همغه رحم كوونكى - هم - دى.

او الله - تعالى - په قرآن كريم كې فرمايي:

{هُوَ اللَّـهُ الَّذِي لَا إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَانَ اللَّـهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ}
{هُوَ اللَّـهُ الَّذِي لَا إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَانَ اللَّـهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ}

(دغه الله هغه ذات دى چې نشته هېڅ حق معبود مګر هم دى دى، چې (حقيقي) بادشاه دى، ښه پاك دى، سلامتي وركوونكى (او) امان وركوونكى دى، نګهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېر لويىٔ والا دى، الله پاك دى له هغو (شيانو) نه چې دوى يې ورسره شريكوي). الحشر سورت: ۲۳ آيت.

نو د نومونو او صفتونو ډېروالى په يو الله پورې اړه لري.

دويمه ستونزه په بېلابيلو بوتانو كې د معبود د صفاتو تجسيد يا منحل كول دي، چې د كائناتو لپاره د دې بت لمانځنو په شتون كې هيڅ امنيت نشته.

لدې امله قرآن کريم له الله تعالی څخه د بت پرستۍ دا ټولې مفکورې نفي کوي، او دا ثابتوي چې د الله تعالی سره د نورو خدایانو نیول، د کائناتو د نا امنۍ تقاضا کوي.

{لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّـهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحَانَ اللَّـهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ}

{لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّـهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحَانَ اللَّـهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ}

(که چېرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دی له هغو خبرو چې دوی يې بيانوي) الانبياء سورت ۲۲ آيت.

که چیرته له الله - تعالی - سره نور معبودان وی، نو آسمانونه او ځمکه به برباد شوي وو.

{وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ بَلْ أَتَيْنَاهُم بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم مُّعْرِضُونَ}

{وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ بَلْ أَتَيْنَاهُم بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم مُّعْرِضُونَ}

(او که حق (الله) د دوی د خواهشاتو پيروي کړې وی (، نو) خامخا به تباه شوي وو اسمانونه او ځمکه او هغه څوك چې په دغو کې دي، بلکې مونږ دوی ته د دوی ذکر راوړ، نو دوی له خپل ذکر نه مخ اړوونکي دي).

المؤمنون سورت: ۷۱ آيت.

## ۵- هندوان د خالق او مخلوق تر منځه اړیکي ته په کوم نظر ګوري؟

د ننیو هندوانو ډیری په وحدة الوجود ایمان لري، چیرته خالق او مخلوق سره یو دي، نو په اوسني هندویزم کې خالق يې په مخلوقاتو کې ورګډ دی، داسې چې ټول پیدا شوي شیان او پیدا کوونکی یې سره یو دي.[1]

دا د ساینس، استدلال، مشاهدې او ویدا د ساده محورونو سره په ټکر کې مفکوره ده.

او - له شک پرته چې - د وحدة الوجود په فلسفه کې ډیری علمي او عقلي ستونزې شتون لري، د هغې له جملې څخه:

لومړۍ ستونزه: د دوی په نیز خدای په هر څه کې منحل شوی دی - که داسې وي - نو یووالي ته د رسیدو په موخه د موکشا ( Moksha मोक्ष) په نوم د دوی دودیز عبادت تر سره کول بیا څه معنا لري؟

څنګه داسې یو شي ته د رسیدو هڅه کوې چه هغه تا کې شتون لري... ته په هغه کې یې او هغه په تا کې دی؟

دویمه ستونزه: د وحدة الوجود په مفهوم کې فسق او ګناهونه په خپله معبود دی، ځکه چې معبود د دوی په اند تېروتنه او ګناه ده او هغه زنا او قتل دی، نو هغه په هر څه کې موجود

[1] د هندویزم انسایکلوپیډیا، جونز، ورایان او جیمز دي، ۳۱۵ مخ (نا ژباړل شوی).

دی، او دا د هر څه جوهر دی؛ نو بیا له ګناه او خطا څخه ځان خلاصول د څه لپاره؟

دوی ولې په ډیر ټینګار سره هڅه کوي چې له دنیوي خواهشاتو او شهوتونو لرې پاتې شي؟

آیا ګناه - په خپله - له وحدة الوجود - څخه نده؟

آیا دغه نړۍ په خپله خدای ندی؟

نو د اوسني هندویزم د دې مفکورې پر اساس د نیکۍ کولو لپاره هیڅ توجیه نشته چې باید ورباندې ټینګار وشي.

مګر ټول د نیکۍ پر کولو ټینګار کوي او پدې پوهیږي چې دا کار اړین دی، آیا همداسې نده؟

په نیکۍ کولو باندې ټینګار په اصل کې د سپیڅلي فطرت غوښتنې ته لبیک وېل دي، نو دا نیغ په نیغه د وجود په یووالي د فلسفې په غلطوالي یو فطري دلیل دی.

دریمه ستونزه: د وجود په یووالي عقیده د حقیقت د نسبت بیانولو ته وایي، ټول دینونه چې د بوتانو او تیرو عبادت کوي د هغوی په اند د خدای عبادت دی، ځکه چې خدای د دوی په عقیده کې بت او ډبره ده، نو خدای په هر څه کې دی او هغه هر څه دی.

د حقیقت دا نسبیت د معنا او ارزښت له لاسه ورکولو غوښتنه کوي، ځکه - پدې سره - هرڅه ریښتیا ګرځي!

تیرو خبرو باندې دا هم ور اضافه کړه چې : د وجود په یووالي عقیده دې پوښتنې ته ځواب نه لري چې وایي: نړۍ له کوم ځای څخه راغلې ده.

نو دا فرض کول چې خالق هماغه مخلوق دی، دا یو بی بنسټه ګومان دی، ځکه چې دا ګومان د یو شي رامنځته کېدل د هغه د راښکاره کېدو پورې تړاو لري.

دا یو عجیب تناقض، او د عقلي له اړخه ناممکن دی.

څنګه کیدی شي چې یو شی دې په خپله د خپل ځان د رامنځته کېدو لامل شي، حال دا چې اصلا رامنځته شوی ندی.

څلورمه ستونزه: دا هم په ساینسي لحاظ ثابته شوې ده چې کاینات او هر څه چې پکې دي تازه رامنځته شوي او دا - خبره - د ټولو عاقلانو لخوا منل شوې ده.

کائنات د خپلې ټولې انرژۍ، مادې، ځای او وخت سره یوه نوې رامنځته شوې حادثه ده ...

په یقیني توګه دا هم په بې شمېره دلایلو سره واضحه شوې چې کائنات پیل لري، او په علمي لحاظ هم وړاندې لدې کائنات نه وو، بیا کائنات راښکاره شول.

نو کله چې کائنات نه وي، نو د وحدة الوجود نظریه څنګه منلی شو؟

که د وجود یووالی (وحدة الوجود) صحیح وي، نو د نړۍ ابدیت ته اړتیا لري، یا لږترلږه د مادې ابدیت ته.

عجیبه خبره خو دا ده چې معاصر هندوان د مادي نړۍ په ابدیت ټینګار کوي، ځکه چې دا اړینه خبره ده چې پر مټ یې دوی د وجود یووالی توجیه کوي.

هندو عالم وییکانند Wiwekanand وايي: پر ځای (مکان) باندې نه وخت تیریږي او نه پکې بدلون راځي.[1]

معاصر هندوان اړ دي چې د مادي نړۍ د ابدیت مفکوره ولري، ترڅو د وحدة الوجود له نظریې سره مطابقت ولري.

دوی به دې - باور - ته نه وو ننوتلي او په پیل کې به یې د وجود په یووالي باور نه و درلودلی، مګر شیطان په خپلو لارو د آدم اولادې ته ناست دی، هغه ته چې هر کله فرصت په لاس ورشي نو د آدم اولاده د انبیاوو له دین څخه اړوي.

الله - تعالی - په قدسي حديث کې فرمایلي دي:

"إنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ، وإنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عن دِينِهِمْ، وَحَرَّمَتْ عليهم ما أَحْلَلْتُ لهمْ، وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بي ما لَمْ أُنْزِلْ به سُلْطَانًا".

"إنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ، وإنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عن دِينِهِمْ، وَحَرَّمَتْ عليهم ما أَحْلَلْتُ لهمْ، وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بي ما لَمْ أُنْزِلْ به سُلْطَانًا".[2]

"ما خپل ټول بندګان په حنیفیت (د یووالي عقیدې) سره پیدا کړي دي، خو دوی ته شیطان راغی او له خپل دین څخه یې واړول، هغه څه یې پرې حرام کړل چې ما ورته حلال ګرځولي وو، او ورته یې امر وکړ چې پر ما شرک وکړي،

[1] هندویزم، وییکانند، ۶۱-۶۳ مخ. له کتاب څخه اقتباس: اسلام ته د هندوانو بلنه، د ډاکټر ابراهیم بن عبدالغفور لیکنه د دوکتورا د ترلاسه کولو لپاره لیکل شوی، ایلاف خیرونه ټولنه د چاپ او توزیع لپاره 122 مخ.

[2] صحیح مسلم، ح: ۲۸۶۵.

په هغه څه کې چې ما پرې کوم دلیل او حجت ندی نازل کړی".

نو ټول بشریت د الله په توحید و، تر دې چې شیطانان ورته راغلل او پدې کفریاتو سره یې دوکه کړل.

او نبي - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: "إنَّ الشَّيطانَ قعدَ لابنِ آدمَ بأطرُقِهِ".[1]. شیطان بني آدم ته د - هدایت - په ټولو لارو ناست دی ( تر څو یې ترې واړوي).

شیطان د انسان د ګمراهۍ لپاره هره لاره لټوي، او د نجات هیڅ لاره نشته پرته له تسلیمیدو څخه د توحید او عبادت هغه لارې ته چې پیغمبران پرې وو.

او ویدا په ډاګه ویلي چې نړۍ پیدا شوې ده او پیل لري.

او دا چې الله له مخلوق څخه خپلواک دی، او په هغوی کې منحل ندی.

هندوان څنګه د وحدة الوجود د باور دې مرحلې ته ورسېدل؟

رګ ویدا ऋग्वेद وایي: "اې الله! لمر او نړۍ دواړه، نشي کولی پر تاسو چاپیره شي او تاسو په خپل ځان کی ځای پر ځای کړي".[2]

دا له ویدا څخه څرګند ثبوت دی چې د وحدة الوجود عقیده غلطه ده، الله له خپل مخلوق څخه خپلواک دی او لمر او سپوږمی معبود نه دي.

---

1 صحیح سنن نسائي ج : ۳۱۳۴.

2 رګ ویدا، منډل: ۱، سوکت: ۱۰، منترا: ۸.

رګ ویدا هم وايي: "الله هغه ذات دی چې شپه او ورځ يې پیدا کړي، او هغه د نړۍ او هغه څه چې په دې کې دي مالک دی، او هغه هغه ذات دی چې لمر، سپوږمۍ، ځمکه او آسمان يې پیدا کړي دي".[1]

د وحدة الوجود او د مادي نړۍ د ابديت د انکار لپاره کومه عقيده له دې څخه روښانه کېدی شي؟

او اليجر ويدا وايي: "هغه؛ هغه ذات دی چې له هغه څخه مخکې هیڅ شی نه دی پیدا شوی، او هغه زموږ خالق او مالک دی، او هغه په هر څه پوهیږي".[2]

له الله څخه هيڅ شی وړاندې ندی پيدا شوی، نو هغه لومړی دی او نړۍ الله تعالی پيدا کړې ده، ابدي نده: "هغه لوی دی، د ځمکې او آسمان مالک دی".[3]

او قرآن کريم هم د همدې روښانه حقيقت تصديق کوي، الله تعالی له نن څخه ۱۴۰۰ کاله مخکې خپل پيغمبر محمد بن عبدالله - صلی الله علیه وسلم - ته وحې کړې ده چې الله له خپل مخلوق څخه جلا دی، په خپل عرش باندې برابر دی، په مخلوقاتو کې نه منحل کیږي او نه مخلوقات په هغه کې منحل کیږي.

الله تعالی فرمايلي دي:

---

[1] رګ ویدا، منډل: 10، سوکت: 190، منترا: 2-3.
[2] يجر ويدا، سوکت: ۳۲، منترا: ۱۳.
[3] رګ ويدا، منډل: ۱، سوکت: ۱۰۰، منترا: ۱.

{اللَّـهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ ۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ}

{اللَّـهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ ۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ}. (الله هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې د دې دواړو په مینځ کې دي، په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا یې په عرش باندې استوا وکړه، ستاسو لپاره له هغه نه غیر نه هېڅ کارساز او نه شفاعت کوونکی شته، آیا نو تاسو پند نه اخلئ!) السجدة سورت: ۴ آیت.

د پیغمبرانو د عقیدې اصل او د هغوی د دین او شریعت اصل دا دی چې الله خالق، یو دی دویم ځوک ورسره نشته، جدا دی، یعنې د خپلو مخلوقاتو نه په پوره توګه جلا دی او پدوی کې منحل ندی.

د وجود د یووالي په فلسفه کې پنځمه ستونزه دا ده چې: دا فلسفه تر ټولو مهمې پوښتنې ته ځواب نه وایي چې: نړی له کوم ځای څخه راغلې؟

د دې فلسفې له مخې نړی څنګه راڅرګنده شوه؟

بیا: په پیل کې د دې فسلفې ویونکی ځوک دی؟

او پر دې دلیل او ثبوت څه دی؟

د دې عقیدې په اړه ډیرې پوښتنې او ډیرې ستونزې را ولاړې شوې، چې د عصري علومو، استدلال، ویدا او د پیغمبرانو د دین سره په ټکر کې دي.

## ۶- هندويزم ژوند او مرګ ته په کومه سترګه ګوري؟

اوسني هندويزم د بيا زيږون مفکورې او د نسل د نه ختميدونکي دورې پر اساس ولاړ دی: مونږ په هندويي تصور کې د زيږونونو په يو ګرداب کې تاويږو، هر ژوندی مخکې په يو وجود کې زيږيدلی او د هغه روح به د هغه له مړينې وروسته بل وجود ته تيريږي. او همداسې، دا هغه څه دي چې په هندويزم کې د سامسار संसार Saṃsāra.[1] په اصطلاح سره پيژندل کيږي: د روحونو د ليږد په دې مسله کې ډيری فکري او ساينسي ستونزې شتون لري، چې له جملې څخه يې:

لومړی ستونزه: د "ترتولين د اعتراض Tertullian's objection" په نوم پيژندل کيږي. هغه وايي: که چيرته د ارواګانو ليږد رينښتيا وي، نو ولې تې خوړونکي کوچنيان د لويانو په څير ذهني وړتياوو سره نه پيدا کيږي؟[2]

دويمه ستونزه: که چيرته د ارواګانو ليږد رينښتيا وي، نو بايد چې د ژونديو موجوداتو شمير ثابت وي، ځکه چې دوی د زيږون په دوران کې يو له بل سره بيا زيږيدلي دي، او دا د نن ورځې يو عاقل سړی نه وايي!

دا ثابته شوې ده چې په لومړي سر کې يو وخت و چې د ځمکې کرې اصلاً شتون نه درلوده، او يو وخت و چې په

---

[1] کوګن، رابرټ. (1998)، انتقادي فکر: ګام په ګام، د امريکا د پوهنتون چاپ، مخ. 202-203

[2] د روث سيمنز د حالت يادونه:
(د https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pubmed/12116612 ډاکټر فوز کردي له ويب پاڼې څخه نقل شوی).

ځمکه کې ژوندي مخلوقاتو شتون نه درلود او يو وخت و چې ژوندي موجودات په دغه شمير کې نه وو، بلکه ډېر لږ وو او بيا د وخت په تېرېدو سره زيات شول او همدا نن د انسانانو په اجماع ثابته ده.

او داسې يو وخت هم و چې د نن ورځې په پرتله لږ خلک وو.

د انسانانو شمير په اجماع سره ثابت نه دی تاکل شوی، نو څنګه د ارواګانو بيا زيږون په ثابتو پړاوونو کې واقع کيږي؟

دريمه ستونزه: ولې د دې فلسفې له خاوندانو پرته بل څوک نه شته چې تېر ژوند - هغه پخواني زيږون - يې په ياد وي په کوم کې چې و.

د روت سيمنز Ruth Simmons په نوم يوه امريکايي مېرمن وه چې د برېډي مرفي Bridey Murphy په نوم يې بلې ميرمنې ته د اروا ليږنې ادعا کړې وه، نو روث سيمونز په نولسمه پيړۍ کې په ايرلينډ کې د برېډي مرفي په وخت کې د خپلو تيرو يادونو په راژوندي کولو پيل وکړ، بيا وروسته څيړونکو د روث د ژوند په اړه څيړنې پيل کړې. په پايله کې دا جوته شوه چې هغې د برېډي مورفي په نوم يوه بله پخوانۍ ګاونډۍ درلوده، او هغې د آيرلينډ څخه د برېډي يادونه له ځان سره راوړي و، او بيا يې ځانته نسبت ورکړی و، بيا يې ادعا کړې وه چې هغه برېډي ده.[1]

---

1 Edwards, Paul. (2001), Reincarnation: A Critical Examination, Prometheus Books.

د ارواګانو لیږد یو تصور او تخیل دی، او د ساینس او حس له ډیرو ساده محورونو سره هم په ټکر کې دی.

پاول اډواردز، د فلسفې د انسایکلوپیډیا رییس مدیر او د نیویارک په پوهنتون کې پروفیسور، وایي: "د ارواګانو لیږد یوازې یو تصور دی چې د عصري ساینس سره په ټکر کې دی".[1]

نو انسان چې کله مړ شي هغه بیا په بل ژوندون کې نه زیږیږي.

او ویدونه تل په دې حقیقت ټینګار کوي، په ویدونو کې د اراوګانو د لیږد یا سمسارا خبرې نشته.[2]

تر دې چې هندو عالم شري ستیا کام او دیالنکار وویل: "د بیا زیږون عقیده په ویدانونو کې نشته او زه هغه څوک ننګوم چې داسې وایي".[3]

د دیالنکار د خبرو د سموالي لپاره غوره ثبوت دا دی چې هندوان د "سرادها Śrāddha श्राद्ध"" په نوم مذهبي مراسم ترسره کوي چې موخه یې د مړو ارواو ته سکون ورکول دي.

---

1 .Yuvraj Krishan: Bharatiya Vidya Bhavan, 1997

2 اواکمن، ۱۰۴ مخ: اسلام ته د هندوانو بلنه، له کتاب څخه نقل کړی. د ډاکټر ابراهیم بن عبدالغفور لخوا لیکل شوی، د دوکتورا ترلاسه کولو لپاره، ایلاف خپرندویه او توزیع مطبعه، ۹۹ مخ.

3 قرطبي په خپل تفسیر کې وایي: دا آیت د هغو کسانو لپاره ځواب دی چې ادعا کوي په مخلوقاتو کې داسې کسان شته چې له مرګ وروسته له قیامت څخه وړاندې بیا را ژوندي کیږي.

نو اروا ښنګه لیږدول کیږي په داسې حال کې چې هندوان د مړو ارواګانې اراموي؟

او قرآن کریم، چې الله پر خپل پیغمبر محمد - صلى الله علیه وسلم - نازل کړی، په هغه چا رد وکړ چې وایي ژوند تکراري دی او ویل یې:

{إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ}

{إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ}

( نه دی دا (ژوندون) مګر همدا زمونږ دنیایي ژوندون، چې مرو او ژوندي کیږو او له سره به مونږ بیا راژوندي نه کړی شو). المؤمنون سورت: ۳۷ آیت.

نو الله؛ په خپل غالب کتاب کې پر دوی رد وکړ، نو ویې فرمایل:

{أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ}

{أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ}

(آیا دوی نه ویني چې له دوی نه مخکې مونږ ځومره امتونه هلاك کړي دي، چې یقیناً هغوی دوی ته بېرته نه راګرځي). یس سورت: ۳۱ آیت.

نو ځوک چې مړ شي بیا یې دنیا ته راتګ او یا بیا ځلې راګرځیدل نشته.[1]

الله تعالى فرمایلي دي:

{لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ}

---

[1] https://en.wikipedia.org/wiki/Rape_in_India

{لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ}
دوی به په دغو کې مرګ نه څکي غیر له ړومبني مرګ نه (چې په دنیا کې تېر شوی دی). الدخان سورت: ۵۶ آیت.

نو دا د مسلمانانو عقیده ده، او هغه د ویدا عقیده ده چې؛ هغه چې له بده مرغه هندوانو پرېښې ده.

څلورمه ستونزه د ارواګانو په لیږد کې ده : دوی ادعا کوي چې هدف یې د مطلق سره د یووالي مرحلې ته رسیدل دي یا هغه څه چې د موکشا په نوم یادیږي، د دې تکراري زیږونونو څخه د خلاصون په موخه، او د دې معنا دا ده چې تکراري زیږونونه عذاب دی.

مګر څوک وایي چې تکراري زیږونونه عذاب دی؟

له ډیری خلکو که تاسو وپوښتئ چې آیا غواړئ بیا وزیږول شئ او بیا ژوند تجربه کړئ، نو ډیری به یې په هو سره له ځواب ورکولو څخه ډډه ونکړي.

برسېره پردې، د وجود په اړه دا شوم نظر چې - وجود - عذاب دی یو ناهیلی کوونکی نظر دی، ځکه په شتون کې ډیر خیر او بې شمېره نعمتونه دي.

موکشا د هغه څه څخه یو خیالي نجات دی چې په واقعیت کې شتون نلري!

پنځمه ستونزه: د ارواګانو د لیږد فلسفه د هر جرم او نافرمانۍ په ترسره کولو کې د بې پروایۍ لور ته هڅول کوي، او د جرمونو تر سره کول توجیه کوي، ځکه چې انسان به

خامخا په راتلونکي زيږون کې له نورو زيږونونو خلاص شي، نو له خپل اوسني زيږون څخه دي خوند واخلي.

دا د هر ډول جرم سره د پخلاينې استازيتوب کوي، او شايد همدا دليل وي چې هند په نړۍ کې د جرمونو ترټولو لوړه کچه لري، په ځانګړې توګه د جنسي تيري جرم.[1]

او هند يو له هغو هيوادونو څخه دی چې د ډله ايزو جنسي تيريو جرمونو ګراف پکې خورا لوړ دی.

## 7- د هندوانو په نيز د تکراري زيږونونو او د ارواګانو ليږد نظريو سرچينه څه ده؟

هيڅوک پر دې نه پوهيږي چې دا مفکورې له کوم ځايه رامنځته شوې او بنسټګر يې څوک دی، او پدې هم نه پوهيږي چې د دې لپاره يې دليل څه دی.

په ويدانونو کې هم د زيږونونو په تکرار باندې کوم دليل نشته، او نه هم په ويدانونو کې د ارواګانو د ليږد په اړه يوه کلمه شته، دا نظريات يوازې د پرانانو Puranas په وروستيو فلسفو کې څرګند شول.

لرې نده چې دا مفکورې دي د کوم هندو عبادت کوونکي ذهن ته ورټوپ کړې وی، لکه يو ډول تخيل؛ څکه هغوی د اوږدو مودو لپاره له خوراک او څښاک پرته کيني، لکه څنګه چې د پرانا (Prana)په دوديزو مراسمو کې تر سره کيږي.

---

1 https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pubmed/8931651 (د امريکا د بايو تيکنالوژۍ د څيړنې ملي مرکز ويب پاڼه، يوه حکومتي ويب پاڼه او په نړۍ کې د طبي څيړنو يو له لويو حوالو څخه ده).

او ښکاره ده چې د پرانا رسمونو تر سره کوونکي د خوراک یا څښاک پرته په یو ټاکلي حالت کې د اوږدې مودې لپاره کیني.

او دا بشپړ چوپتیا چې له خوراک او څښاک پرته په یوه ځانګړې وضعیت کې د څو ساعتونو لپاره وي، د وخت په تیریدو سره په وینه کې د ګلوکوز د کمیدو سبب ګرځي چې له امله یې د مغز په آیونونو کې عدم توازن رامنځته کیږي، نو د اندورفین هرمون څخه په نا انډوله توګه افرازات رامنځته شي او انسان ته کاذب تخیلات پیدا شي چې ګومان کوي یو څه پیښ شوي خو په حقیقت کې هغه نه وي پیښ شوي.[1].

هغه نظریه چې - د هندوانو عبادت کوونکي - یې لري او هغه څه چې دوی په پوراناس کې د تکراري زیږونونو په اړه لیکلي؛ تخیل او یا مغزي نشې ته نږدې حالت دی.

دا د عصري ساینس د راپور له مخې، لکه څنګه چې د امریکا د بایو ټیکنالوژۍ د څیړنې ملي مرکز چې یوه حکومتي ویب پاڼه او په نړۍ کې ترټولو لوی طبي مرکز دی وایي چې پدې بڼه د اوږد مهال لپاره په وینه کې د ګلوکوزو کموالی وهمي حالت(هالوسینیشن) رامنځته کوي.[2].

امام ذهبي رحمه الله فرمایي: بیا د علم نه خالي عبادت کوونکی چې کله زهد، ګوښه والي او لوږې ته مخه کړي، غوښه او میوه خوړل پریږدي او یوازې فکر کولو او زړه

---

1 مخکینۍ سرچینه.

2 سیر اعلام النبلاء، د : احمد ابن ابی الحواری ژباړه، د ډاکټر فوز کردي له ویب پاڼې څخه نقل شوی.

ماتولو باندې بسنه وکړي، نو نفسي خطرونه ورسره مل شي او شیطان پکې وځي او ننوځي نو ګومان کوي چې موخې ته ورسیده، او خبرې ورسره وشوې، او پرمختګ یې وکړ، نو شیطان ته په ګوتو ورشي او وسوسې ورته پیدا کوي .[1]

اسلام پدې بڼه زهد او پر ځان له دا ډول تکلیف راوستلو څخه منع فرمایلې.

پر ځان دا ډول فشار راوستل د وخت په تیریدو سره د فکرۍ کمزورۍ او دیني فساد لامل ګرځي.

الله - تعالی - په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

{قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّـهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ}

{قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّـهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ}

[ته ووایه: هغه زینت چا حرام کړی دی چې الله د خپلو بنده ګانو لپاره راوېستلی دی او له رزق څخه پاکیزه شیان (چا حرام کړي دي؟)] الأعراف سورت: ۳۲ آیت.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "لا تُشَدِّدُوا على أنفُسِكم ؛ فيُشَدِّدَ اللهُ عليْكُمْ ، فإنَّ قومًا شدَّدُوا على أنفُسِهم ، فشدَّدَ اللهُ عليهم فتلْكَ بقاياهم في الصوامِعِ والديارِ "په خپلو ځانونو ډیره سختي مه راولئ، چې الله به پر تاسو سختي راولي، یو قوم و چې پر ځان یې سختي راوستې وه، نو الله

---

1 سنن ابي داود، د حدیث شمېره: ۴۹۰۴، د حدیث درجه: صحیح.

پرې سختي راوسته، نو دايي په کورونو او کليساګانو کې پاتې شوني دي".

{وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ}

{وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ} (او رهبانيت چې دغه دوی له ځانه ايجاد کړی و، مونږ پر دوی باندې لازم کړی نه و). الحديد سورت ۲۷ آيت.[1]

نو دې سختۍ وهمونه وزيږول، چې له امله يې د ويدا ضد مفکورې رامنځته شوې، کوم چې نن د هندويزم لپاره اصل ګرځيدلی دی.

او که چېرته مقابل لورې ته هغو واقعي معجزو ته وګورو چې الله - تعالی - پرې د خپلو انبياوو تائيد او مرسته کوې، نو معجزې خو په ناڅاپي ډول پرته له مخکنې چمتووالي څخه رامنځته کيږي، او خلک يې په خپلو سترګو ويني، او بيا هم انسانان نه شي کولای چې د هغه په څېر راوړي!

دا د پيغمبرانو د خبرونو او د هندوانو ځان ښودونکو عابدانو ترمنځ توپير دی.

### ۸- هندوان کائناتو ته په کوم نظر ګوري؟

د هندويزم د فلسفې له مخې کائنات د انحلال په حالت کې دي او بيا بيرته راڅرګنديږي او همداسې د تل لپاره.

---

[1] "Energy – (according to New Age thinking)", The Skeptic's Dictionary, 2011-12-19.

چیرته چې کائنات جوړیږي، بیا منحل کیږي بیا یې جوړښت تکراریږي، او همداسې ...

او د کائناتو په اړه دا تصور چې منحل کیږي او بیا جوړیږي یوه علمي غلطي ده.

کاینات په ساینسي لحاظ د نورو کائناتو څخه مخکې نه و، بلکه دا په بې سارې توګه داسې پیدا شوی چې وړاندې ترې بله داسې بیلګه نه وه.

او دا د مسلمانانو هغه عقیده ده چې له نن څخه ۱۴۰۰ کاله وړاندې د مکې خلکو ته د یوه سړي له خوا راوړل شوې وه چې د یو څو پیسو په مقابل کې یې د مکې د خلکو چوپاني کوله. هغه - سړی - د محمد بن عبدالله په نوم د الله رسول او د اسلام پیغمبر دی؛ صلی الله علیه وسلم. الله پاک هغه ته وحې وکړه چې دا کاینات له پخوانۍ ببلګې پرته پیدا شوي دي، نو الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي.

{بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ}

{بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ}

(بې له مخکنۍ نمونې پیدا کوونکی د اسمانونو او ځمکې دی، او کله چې د کوم کار فیصله وکړي، نو همدا خبره ده چې هغه ته ووایي: "وشه" نو هغه وشي) البقرة سورت ۱۱۷ آیت.

### ۹- د هندویزم له نظره د انسان بدن له څه شي څخه جوړ شوی دی؟

په هندویزم کې د انسان بدن له پنځګونو قواو څخه جوړ شوی دی - چې عبارت دي له -: اوبه، ځمکه، هوا، اور او جلوه وهونکې ماده.

او ټول کائنات، او څه چې پدې کې دي، د دې پنځو عناصرو څخه جوړ شوي دي.

د پنځو عناصرو څخه هر یو یې ورته سیارې لري، مریخ اور لرونکی دی او زحل ځمکني دی، او د انسان هر غړی په پنځو عناصرو کې له یو سره ورته والی لري، توری ځمکني دی او زړه اور لرونکې ده.

هر څه چې په موجوداتو کې دي د پنځو عناصرو له مخې طبقه بندي شوي حتی وختونه هم، او د هغوی په اند ناروغي بل څه نه دي پرته لدې چې د پنځګونو عناصرو په توازن کې کوم نقصان رامنځته شي.

د پنځو عناصرو مفکوره د پرانا Prana لخوا خپره شوه، کوم چې د لوړې دودونه او د ساعتونو لپاره د بشپړې چوپتیا ناستې دي.

له بده مرغه، د پنځو عناصرو مفکوره په نړۍ کې خپره شوه او په انرژۍ سره د ډیری درملیزو علومو پایله وګرځیده.

درملنې اصلي علوم په انرژۍ، میکروبیوټکس، فینګ شوئ، رنګ سره درملنه، او داسې نورو طریقو سره د دې عناصرو په کنټرول ولاړ دي.

د دوی په اند د دې پنځګونو عناصرو کنټرول دوی روزي راجلبوي او بدي له منځه وړي.

نن ورځ د هندوانو په معبدونو کې د دې پنځو عناصرو د کنټرول لپاره مساج ترسره کیږي، پدې باور چې دا د ډیرو ناروغیو درملنه ده.

او دا د پنځو عناصرو مفکوره په هیڅ شي کې د علم سره تړاو نلري.

او دا د فزیک او یا طب سره هیڅ تړاو نلري.

بلکه، ساینس د دې او دې پورې اړوند مفکورو غندنه کوي ځکه دا یو ډول خرافات، شکونه او دوکه ورکوونکی عمل دی.

د پنځګونو عناصرو نظریه په جعلي علومو کې طبقه بندي شوې ده.[1]

او پدې پورې اړوندو کړنو باندې پریکړه شوې چې دا افسانې او وهمونه دي.[2]

د پنځو عناصرو مفکوره کیدی شي د یو عابد ذهن ته داسې وردانګلي وي لکه څرنګه چې د تکراري زیږونونو فکر او د روحونو د لیږد مفکورې وردانګلې و، ځکه چې د دې لپاره هیڅ عقلي، علمي او یا منطقي دلیل شتون نلري.

---

1 "Some Notes on Wilhelm Reich, M.D", Quackwatch.org, 2002-02-15.

2 ما په انرژۍ سره د درملنې مسله کې په یوه بشپړ خپلواک کتاب کې بحث کړی دی چې عنوان یې دی: رواني الحاد.

دا يوازې يو خيالي نظر دی.

ستونزه دا ده چې د دې مفکورې عملي کول يوازې د بت لمانځونکي تلسمونو (تعويذونو)، سيارو، شکلونو، سمبولونو، رنګونو او کوډو سره تړاو لري چې الله په دې اړه هيڅ حکم نه دی نازل کړی.[1]

اسلام له معاصر علم څخه وړاندې د پنځو عناصرو له نظريې څخه خلک ژغورلي دي، ځکه چې دا عملونه د سمې درملنې په کولو کې د ځنډ لامل ګرځي، او د حقيقي نړی سره موازي انسان په دوکوو کې د ژوند کولو، او له الله پرته د بل چا سره د اړيکو رغولو لامل ګرځي، لدې امله اسلام د دغو کړنو پر وړاندې په ځان ژغورلو سره سخت ټينګار کړی دی، الله تعالی په قدسي حديث کې فرمايلي دي:

"أصبحَ من عبادي مؤمنٌ بي وكافرٌ فأمَّا من قالَ مُطِرنا بفضلِ اللَّهِ ورحمتِهِ فذلكَ مؤمنٌ بي كافرٌ بالكوكبِ، وأما من قال مُطِرنا بنَوْءِ كذا وكذا فذلكَ كافرٌ بي مؤمنٌ بالكواكبِ".

"أصبحَ من عبادي مؤمنٌ بي وكافرٌ فأمَّا من قالَ مُطِرنا بفضلِ اللَّهِ ورحمتِهِ فذلكَ مؤمنٌ بي كافرٌ بالكوكبِ، وأما من قال مُطِرنا بنَوْءِ كذا وكذا فذلكَ كافرٌ بي مؤمنٌ بالكواكبِ".[2] «زما له بنده ګانو څخه ځينو پداسې حالت کې سبا کړ چې پر ما ايمان لرونکي او ځينې نور کفر کوونکي وو، نو څوک چې ووايي د الله په فضل او رحمت پر مونږ باران وشو، نو دا پر ما مؤمن او په ستورو کافر شو، او څوک چې ووايی، د فلانې ستوري

---

[1] صحيح مسلم، : ۷۱ شمېره حديث.
[2] صحيح الجامع،: ۱۶۳۲، شمېره حديث.

- په راختو سره - پر مونږ باران وشو، نو دا انسان پر ما کافر او په ستورو ایمان لرونکی شو».
ځوک چې پر سیارو باور لري او په انسانانو یې اغیزمن ګڼي او دا چې د انسانانو په رزق کې ونډه لري، نو په الله یې کفر وکړ، او ځوک چې په الله ایمان ولري نو هغه د انسانانو په تقدیر کې د سیارو په مداخله کولو کافر دی.
او په یقیني توګه رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي:
"إنَّ الرُّقى، والتَّمائمَ، والتِّوَلَةَ شركٌ".
"إنَّ الرُّقى، والتَّمائمَ، والتِّوَلَةَ شركٌ".[1]
"په یقني توګه چې - شرکي - دمونه، بندونه، او تعویذونه شرک دی".
لدې امله، یو مسلمان د پنځو عناصرو خرافات او ورسره د تعویذونو او بندونو په افسانو باندې باور نلري.
بلکې اسلام تائیدوي چې د تعویذونو، هندسي شکلونو، د انرژۍ پنډولم او داسې نور - ځېزونه - چې د پنځو عناصرو پورې اړه لري او دا باور لرل چې دا تعویذونه ګټې او ضررونه لري؛ په الله د شرک او کفر اصل دی.
وقد رأى رسول الله صلى الله عليه وسلم رجلاً وفي يده حلقة من صُفْر فقال: "ما هذا؟ قال: مِن الواهنةِ قال: ما تَزيدُك إلَّا وَهْنًا، انبِذْها عنكَ فإنَّكَ إنْ تمُتْ وهي عليك وُكِلْتَ عليها".

---

1 صحیح ابن حبان: ۶۰۸۵ شمېره حدیث.

او رسول الله - صلی الله علیه وسلم - یو سړی ولید چې په لاس کې یې د مسو یوه کړۍ وه، نو ورته یې وفرمایل: "ما هذا؟ قال: مِن الواهنةِ قال: ما تَزيدُك إلَّا وَهْنًا، انبِذْها عنكَ فإنَّكَ إنْ تمُتْ وهي عليك وُكِلْتَ عليها".[1] "دا څه دي؟ هغه ووېل: د کمزورۍ له امله- مې اچولې ده - ویې فرمایل: دا به دې کمزوري نوره هم زیاته کړي، درځخه یې لرې کړه، که چیرته ته مړ شوې او دا پر تا وي، نو همدې ته به ورسپارل شې".

او په بل روایت کې راغلي: "فإنك لو مت وهي عليك ما أفلحت أبداً".[2] که ته په داسې حال کې مړ شوې چې هغه پر تا باندې وه، نو هیڅکله به بریالی نه شې.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایلي دي: - پدې نیت - د تعویذونو جوړول چې تر شا ګټې پریږدي او زیانونه دفع کوي همدا لوی شرک دی.[3]

دا هماغه عقیده ده چې د بهاګواد ګیتا - Bhagavad Gita - भगवद्गीता - لخوا رامنځته شوې ده: "هغه څوک چې د خدایانو عبادت کوي نو خدایان تر لاسه کوي، او هغه څوک چې د پلرونو عبادت کوي هغه پلرونه تر لاسه کوي، او هغه څوک چې د شیطان عبادت کوي شیطان تر لاسه کوي، او څوک چې زما عبادت کوي هغه به ما ومومي".[4]

---

1 صحیح دی، د الهیتمي المکي له روایت څخه، الزواجر، ۱ ټوک، ۱۶۶ مخ.
2 مجمع الفتاوی، ۹ ټوک، ۳۴ مخ.
3 بهاګاواد ګیتا، 9-25.
4 یګر ویدا، سوکت: ۴۰، منترا: ۹.

هر هغه څوک چې له الله - تعالى - پرته د دې طلسمونو سره تړاو لري نو هغه له الله - تعالى - څخه بغير د بل څوک عبادت کوونکی دی.

د ويدا په وينا، د هغه برخليک د دوزخ په اور کې ابديتوب دی. اليګر ويدا وايي: "څوک چې له الله پرته د جوړ شوو شيانو عبادت کوي، هغه به په تياره کې ډوب شي او وخت په وخت به د دوزخ عذاب وڅکي"[1].

زمونږ پاک پروردګار فرمايلي دي: {بَل لِّلَّـهِ الْأَمْرُ جَمِيعًا}سوره الرعد ٣١. (بلکې امر (اختيار) ټول خاص د الله لپاره دی).

او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "إذا سألتَ فاسألِ اللهَ ، وإذا استعنْتَ فاستعِنْ باللهِ"[2].

کله دې چې سوال کاوه نو له الله نه يې وکړه، او کله دې چې مرسته غوښتله نو په الله يې وغواړه".

له همدې امله مسلمان د پنځو عناصرو، سيارو، تعويذونو او بندونو د اغيزې په خرافاتو باور نه کوي، بلکې باور لري چې دا عين بت پرستي، ګمراهي، شيطانت او خرافات دي.

### ١٠ - د هندو ټولنې انځور څرنګه دی؟

هندو ټولنه د اروا ګانو د ليږد او د کرما په نظريو د باور له امله يوه طبقاتي ټولنه ده.

1 سنن الترمذي، حديث شمېره: ٢٥١٦، صحيح.
2 رګ ويدا، منډل: ١، سکوټ: ١، منترا: ۶.

چیرته چې به فاسد انسان په راتلونکي زیږون کې د لومړي - ژوند - په پرتله په ټیټه طبقه کې وي

نو ځکه، مصیبت ځپلی د هغه د ستونزو مستحق دی ...

دا د بې وزلو او مصیبت ځپلو په وړاندې د ظلم بشپړ انسجام او د هغوی پر وړاندې بې تفاوتي ده ... دا په ډاګه د تیري کولو سره عادي کول دي.

په هندویزم کې انسانان څلورو طبقو ته ویشل کیږي چې عبارت دي له:

۱- برهمن: ښوونکي او پادریان.

۲- کشتریه: جنګیالي او پاچاهان.

۳- ویچی: بزګران او سوداګر.

۴- چهودرا: مزدوران.

او تر ټولو ټیټه طبقه: چودرا ده - د دوی په اند - هغه پرېښودل شوې کسان دي چې په ناپاکو کارونو اخته دي لکه پاکوالی او خدمت.

د هر چا طبقه د هغه د کار، جامو او خوراک ډول ټاکي.

او واده هم د یوې طبقې په چوکاټ کې ترسره کیږي.

یو سړی د ژوند تر پایه هغه طبقې ته په منسوبېدلو اړ دی چې پکې زیږیدلی وي.

دا طبقاتي مفکوره لکه څنګه چې ما وویل، د ارواګانو د لیږد او کرما له عقیدې څخه - په ګناه او ثواب - کې سرچینه اخلي، نو شودر د دې مستحق دی چې له پامه وغورځول شي،

ځکه چې هغه خامخا په تیرو زیږونونو کې ګناهکار و، ځکه خو پدې طبقه کې وزیږید.

دا تحریف شوی غلط فهم ټول ژوند فاسدوي، ځکه د دې تصور پر بنا مونږ کولای شو په ټولنه کې له پامه غورځیدلو اشخاصو سره مرسته کول د کرما یو ډول بې عزتي وګڼو.

دا د وروسته پاتې والي، بې عدالتی، طبقاتي ژوند او استبداد سره یو ډول پخلاینه ده.

د ارواګانو لیږد او د کرما فلسفې دا طبقاتي حالت رامنځته کړی او د هغه ناچارو، ناروغو، او بې وزلو خلکو په وړاندې یې دا غلط تصور پیدا کړی دی چې په لاس کې یې هیڅ نشته.

هندویزم د کمک او دوی ته د مرستې لاس ورکولو فرصت له لاسه ورکړی .

د هندوانو دغه نظر د انساني فطرت له طبیعت سره مخالف نظر دی، هغه فطرت چې له کمزورو، اړمنو او ناروغانو سره د خواخوږۍ په لور هڅول کوي او د هغوی پر وړاندې په احساس درلودلو ټینګار کوي، تر څو ورته خدمتونه وړاندې او ورڅخه د زیان او کړاونو د کمولو هڅه وشي.

زه نه پوهیږم چې هندوان څنګه د آخرت په ورځ له باور څخه - چې په ویدا کې لیکل شوي ده - لیرې شوي دي؛ هغه عقیده چې په واسطه یې د انسان ژوند سمیږي او د دنیا په اړه یې نظر هم سمیږي، د انسان سره محاسبه کول په آخرت کې د الله تعالی په وړاندې وي، او ټول انسانان بې ګناه نړۍ ته راځي، او اړمنو ته د مرستې لاس ورکول په آخرت کې د الله تعالی په وړاندې د انسان مرتبه لوړوي.

د دواړو نظرونو څخه کوم يو د انسان لپاره مناسب دی او د هغه فطرت ته نږدې دی؟

د کرما فلسفه...يا د ويدا عقيده؟

په رګ ويدا کې راغلي: "اې الله، ته يو صالح سړي ته غوره اجر ورکوي".[1]

په هغه کې راغلي دي: «ما په هغه ځای کې تلپاتې کړه چې هر ډول خوندونه او خوشحالۍ پکې دي، په هغه ځای کې هغه څه ورکول کيږي چې نفس يې غواړي».[2]

نو دا د ويدا عقيده ده.

هلته جنت دی چې په هغه کې به نيکانو ته نعمتونه ورکول کيږي.

د ويدا په وينا ، او هلته د ګناهکارانو لپاره چمتو شوی عذاب هم شتون لري.

رګ ويدا وايي: "د ګناهکارانو لپاره ډير ژور ځای دی چې بيخ يې لرې دی".[3]

نو دا ځايونه د زيږونونو د تکرار او د ارواګانو د ليږد له نظريې څخه چيرته دي؟.

د کرما په فلسفه کې د ګناهکارانو لپاره ترټولو ژور ځای چيرته دی؟

---

1 رګ ويدا، منډل: ۹، سوکت: ۱۱۳، منترا: ۹-۱۱.
2 رګ ويدا، منډل: ۴، سوکت: ۵، منترا: ۵.
3 صحيح مسلم، د حديث شمېره: ۲۶۹۹.

نو په ټوله کې د کرما فلسفه یوه بشري اختراع او د ویدا د اصل مخالف تصور دی.

یقینا د ټولو انبیاوو عقیده: د آخرت په ورځ، جنت او دوزخ ایمان لرل وو، او دا چې انسانان پاک او بې ګناه پیدا کیږي.

دا هغه باور دی چې له فطرت سره موافق دی او ورسره اړخ لګوي، او د بې عدالتۍ، وروسته پاتې والي، طبقاتي ژوند او استبداد سره په ټکر کې دی.

د پیغمبرانو دین د انسان د لوړولو هڅه کوي، او د خلکو د برابرۍ غوښتنه کوي.

او په اسلام کې د انسان ارزښت نه د هغه په طبقه کې دی، نه د هغه په شکل، نه د هغه د روغتیا په حالت او نه د هغه په مادي سویه کې؛ بلکې د انسان ارزښت د هغه د نیکو اعمالو په تناسب دی چې کوي یې.

اسلام د ټولو لوړوالي او حسب او نسب له پامه غورځولو ته بلنه ورکوي.

هغه په ټولیزه توګه د - خلکو - له پامه غورځول او طبقاتي فکر نظر په کلکه ردوي.

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

{يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّـهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّـهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ}

{يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّـهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّـهَ عَلِيمٌ

خَبِيرٌ}. (اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پيدا کړي یاست او مونږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي یئ، د دې لپاره چې تاسو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی). الحجرات سورت: ۱۳ آیت.

او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي:

" مَن بَطَّأَ به عَمَلُهُ، لَمْ يُسْرِعْ به نَسَبُهُ".

" مَن بَطَّأَ به عَمَلُهُ، لَمْ يُسْرِعْ به نَسَبُهُ".[1]

"څوک چې خپل عمل سست کړ، نو نسب به يې چټک نه کړی شي".

او هغه صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي:

"لا يأتيني الناس بأعمالهم وتأتوني بأنسابكم".

"لا يأتيني الناس بأعمالهم وتأتوني بأنسابكم".[2]

"خلک ماته په خپل عمل سره نه راځي خو تاسو به په نسب سره راځئ".

نسب په اسلام کې هیڅ ارزښت او وزن نه لري.

او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي:

"يا أيها الناس ألا إن ربكم واحد، وإن أباكم واحد، ألا لا فضل لعربي على عجمي، ولا لعجمي على عربي، ولا لأحمر على

---

1 الوادعي په صحيح المسند کې حسن ګڼلی: ۱۴۲۶ شمېره حدیث.

2 بیهقي په شعب الایمان کې روایت کړی او حدیث صحیح دی، السلسلة الصحيحة، : 2700. شمېره حدیث.

أسود، ولا لأسود على أحمر إلا بالتقوي". وقال صلى الله عليه وسلم:
"يا أيها الناس ألا إن ربكم واحد، وإن أباكم واحد، ألا لا فضل لعربي على عجمي، ولا لعجمي على عربي، ولا لأحمر على أسود، ولا لأسود على أحمر إلا بالتقوي".[1]
"اې خلکو خبر اوسئ چې ستاسو رب يو دی او ستاسو پلار يو دی، خبر اوسئ چې نه عرب ته په عجمي، نه عجم ته په عربي، نه سور ته په تور او نه هم تور ته په سور باندې فضيلت لري پرته له تقوا څخه او هغه - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي:
"ابغوني الضُّعَفاءَ ، فإنما تُرزقون و تُنصَرون بضُعفائِكم".
"کمزوري راته پيدا کړئ، ځکه چې تاسو ته د کمزورو خلکو په وجه رزق درکول کيږي او مرسته درسره کيږي."[2].
نو دې انځور ته وګوره: " ابغوني الضُّعَفاءَ ، فإنما تُرزقون و تُنصَرون بضُعفائِكم" "کمزوري راته پيدا کړئ، ځکه چې تاسو ته د کمزورو خلکو په وجه رزق درکول کيږي او مرسته درسره کيږي" او - په مقابل کې يې - هغه انځور ته وګوره چې هندوان يې د کمزورو لپاره - لري.
په يقيني توګه چې د بشري نفس په فطرت کې د بې وزلو، ضعيفانو، ساده ګانو او کم عقله خلکو سره خوا خوږي شتون

---

1 سنن ابي داود او ترمذي او الباني په صحيح الجامع او صحيح ابو داود په: ۲۵۹۴ شميرې سره روايت کړی دی.
2 د سپيڅلي غوا افسانه، دويجيندرا نارايان (نا ژباړل شوی) اثر.

لري، او د دې فطرت په وړاندې د نن ورځې د هندویزم کینه یوه اصلي ستونزه ده.

### ۱۱ - آیا هندوان په رښتیا د غواګانو عبادت کوي؟

په هندویزم کې غوا د ورکړې د سرچینې په توګه ځانګړې درناوی لري، او یوه بله مسئله هم شتون لري، چې هغه معاصره هندویي مفکوره ده،-دا مفکوره وايي - چې اله په خپلو مخلوقاتو کې منحل شوی دی، چې په دې - مخلوقاتو کې - غواګانې هم دي، هغه څه چې د وحدة الوجود په فلسفې سره پیژندل کیږي - نو په هندویزم کې غوا ته په بېلابېلو بڼو درناوی کیږي.

او په دوامداره توګه د هند په بېلابېلو برخو کې د غواګانو لپاره ځانګړي مراسم ترسره کیږي.[1]

له بلې خوا، ویداس په هر څه او هر مخلوق باندې د الله پاکوالي او لویی ته لومړیتوب ورکړی دی.

په رګ ویدا کې راغلي دي: "زه هغه الله یم چې له هر څه مخکې شتون لري، او زه د ټولې نړۍ مالک یم او زه د ټولو نعمتونو حقیقي ورکوونکی او غوره شوی یم؛ نو ټول ارواګان باید ما ته د مرستې او روزۍ لپاره آواز وکړي".[2]

دا د لمر په څیر روښانه دلیل دی چې د وحدة الوجود مفکوره ردوي، ځکه الله د نړۍ خالق دی او له نړۍ څخه خپلواک دی.

---

[1] رګ ویدا، منډل: ۱۰، سوکت: ۴۸، منترا: ۱.

[2] https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pubmed/8931651

همدارنګه په دې دلیل کې د مادي نړۍ له درناویتوب او له مخلوقاتو څخه د مرستې له غوښتلو څخه ویرول شوي دي، نو له هیچا څخه مرسته نه غوښتل کیږي پرته له الله څخه؛ - هغه ذات - چې د غواګانو او ټولو څیزونو پیدا کوونکی دی.

او یوازې یو الله تعالی ته د تسلیمیدو عقیده د اسلامي عقیدې ګوهر دی.

اسلام وایي چې غواګانې او زموږ شاوخوا هر مادي شی زموږ تابع دي، چې الله - تعالی - په خپل فضل سره پیدا کړي دي، الله تعالی په قران کریم کې فرمایلي دي:

{وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ}

{وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ}

(او ستاسو لپاره یې په کار لګولي دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، په داسې حال کې چې دا ټول د هغه له جانبه (مسخر) دي، ببشکه په دغو کې د هغه قوم لپاره یقینًا ډېرې نخښې دي چې غور فکر کوي). الجاثیة سورت: ۱۳ آیت.

دا د اسلام عقیده ده؛ او دا د انسان فطرت دی.

هندوان نشي کولی د توحید او الله ته د تسلیمیدو عقیدې ته بېرته وروګرځي؛ هغه چې ویدا پرېږ و، پرته له اسلام څخه، اسلام په ویدا کې د ټولو حقیقتونو ویونکی دی او دا هغه څه

دي چې د انسانانو ټول ناسم کارونه سموي او ټول هغه تحریفونه ردوي چې انسانانو په الهي وحیې کې کړي دي.

### 12- خو په هندویزم د پرهیزګارۍ او له ګناه څخه د ځان ساتلو لپاره ډېرې هڅې شته، آیا دا یوه ښېګڼه نه ده؟

*لپاره ډیرې هڅې شته، آیا دا یوه ښېلوونکې نخښه نده؟.*

ما مخکې په هندویزم کې د زیات تشدد مسئلې ته اشاره وکړه، مګر هغه څه چې غواړم دلته یې ووایم دا دي چې په ګناه پښیمانتیا او د ضمېر ملامتي طبیعي مسئلې دي چې د الهي مکلفیت سره تړاو لري.

نو دا چې مونږ مکلف یو، د کومې غلطۍ په صورت کې د ضمیر د ملامتۍ (پښېمانتیا) احساس کوو.

نو دا فطرت دی، الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

{فِطْرَتَ اللَّـهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا}

{فِطْرَتَ اللَّـهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا}

[(تاسو لازم ونیسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه یې خلق پیدا کړي دي] الروم سورت ۳۰ آیت.

د دې فطرت له مخې انسان د خیر او حق په وړاندې د مخالفت پر مهال د ضمېر یو څه ملامتي احساسوي.

او الله تعالی په اخري رسالت - اسلام - کې له نیکۍ او حقیقي ارزښتونو څخه د سرغړونې پر مهال د بخښنې او توبې لارښوونه کړې ده او همدا رنګه الله تعالی امر کړی چې حقونه بېرته خپلو خاوندانو ته وسپارل شي - څکه - په دې سره الله ګناه له منځه وړي.

مګر موږ په هندویزم کې د جرم په وړاندې د مقاومت بله لاره ګورو، کومه چې په نفس باندې ډېر فشار راوړل دي، سر بیره پر یو لړ عملونو، مراقبتونو او سکون بخښوونکو رواجونو چې تر سره کوونکي یې ورسره په بشپړه توګه آرامیږي.

## 13- مګر آیا په هندویزم کې بشپړ آرامتیا او مراقبت ښه شی نه دی؟

په هندویزم کې مراقبت لکه څنګه چې د یوګا په ناستو کې تر سره کیږي چې د پرانا Prana په وروستی فلسفه کې څرګند شو: دا د الله - تعالی - په مخلوقاتو او حکمتونو کې فکر نه دی او نه د هغه بې مثاله صنعت او نعمتونو ته ژور لیدل دي.

بلکې فکري تمرکز د دوی په اند یو ډول بشپړه آرامي او د هر ډول فکرونو له تګ راتګ څخه د ذهن خالي کول دي.

دا د مرګ د خاموشی په څېر بشپړه خاموشي ده چې عقل پکې له هر ډول فکر کولو څخه خاموش وي.Silence your Mind During Yoga.

دا فکري عجیبه ناستې چې د ویدا څخه وروسته دوره کې راڅرګندې شوې چې د دوی په فکر یې اغیزه وکړه او دوی ته د وهمونو او تخیلاتو راتلل پیل شول او شیطانانو د دوی په ذهنونو لوبې کول پیل کړل.

ځینې فکر کوي چې ده پوهه یا معلومات تر لاسه کړل، او هغه څه چې ورته پیښ شول د مغزو د آیونونو د نه خوړلو او

د بشپړې چوپتیا په پایله کې له هیلوسینشن (وهم او تخیلاتو) پرته بل څه ندي لکه څنګه چې - دا خبره - ما مخکې تشریح کړه[1]

اوږد جامد مراقبت او سخته لوږه د دې ډول مغشوشتیا لامل کیږي، په نړۍ کې د جامد مراقبت ښوونځیو یو له خورا مشهورو بنسټ ایښودونکو څخه ، میکاو اوسوي پدې اعتراف کوي.

هغه ومنله چې له اوږدې لوږې او محرومیت څخه وروسته هغه خپل هوش له لاسه ورکول او کاذب تخیل پیل کړ او پدې شیبه کې ورته خاطرې راتلې.[2] .

د رواني ناروغیو ډاکټر ډونووان راکلیف Donovan Rawcliffe په یوه خپلواکه څیړنه کې تایید کړې چې هغه فکرونه چې د دې عملونو په پایله کې رامنځته کیږي د هغه تخیلاتو او وهمونو (هیلوسینیشن) سره هیڅ توپیر نه لري چې د عقلي او عصبي ناروغیو په پایله کې رامنځته کیږي[3].

---

1 ریکی؛ د پیل کونکو لپاره، ډیویډ ایف فاینلز، 35-30 مخونه، (د ختیځې درملنې معاصرې فلسفي طریقې، ډاکټره هیفاء بنت ناصر الرشید) څخه نقل شوي.

2 Rawcliffe, Donovan, (1988), Occult and Supernatural phenomena, Dover Publications, p. 123

3 د تکمیلي درملو پیژندنه، سایمن بورګ اولیور، مخ 290 ( څخه نقل شوی: د نوي عصر غورځنګ، ډاکټر هیفاء بنت ناصر الرشید). An introduction to complementary medicine, Simon Borg Olivier, p.290

د پورتنیو برخو سربیره، د یوګا ډیری ناستې روغتیایي نیمګړتیاوې لري، او ځان پرې په دوامداره توګه عادت کول انسان ته ګډوډي او تشویش پیدا کوي او د ځای او وخت پېژندلو احساس له لاسه ورکولو لامل ګرځي، حافظه کمزورې کوي او زهایمر (د دماغي حجرو ویجاړوونکی مرض) ګړندی کوي[1].

پدې کړنو سره هندویزم له ویدا او د پیغمبرانو له تعلیماتو څخه لرې شوې ده.

اسلام د الله د مخلوقاتو په اړه فکر، تدبر او غور کولو ته بلنه ورکړې ده، هغه داسې یو تفکر، تدبر او غور کول دي چې انسان عمل کولو، پیروۍ، د الله شکر ویستلو او په ژوند کې زیار ویستلو ته اړ باسي، نه د عقل داسې سکون او خاموشي چې چوپتیا ورپسې وي.

ریښتینی فکر کول هغه څه دي چې د الله د اطاعت او هغه ته د رجوع کولو لامل ګرځي.

{الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّـهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَـٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ}

{الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّـهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَـٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ}. (هغه کسان چې الله یادوي په ولاړه او ناسته او (چې پراته وي) په خپلو اړخونو باندې او د آسمانونو او

1 صحیح سنن الترمذي:۲۵۰۷.شمېره حدیث

ځمکې په پیداښت کې ښه فکر کوي (او وايي:) اې زمونږه ربه! تا دا عبث نه دي پیدا کړي، تا لره پاکي ده، نو ته مونږه (د جهنم) له اور نه بچ کړه). آل عمران سورت: ۱۹۱ آیت.

دا هغه مفکوره ده چې اسلام راوړې او دا د انسان د فطرت سره سمه ده او له انسان سره مرسته کوي چې د هغه شاوخوا د الله - تعالی - په نعمتونو شکر وباسي او د دې نعمتونو په اړه فکر وکړي.

او په هندویزم کې چې د بشپړې خاموشۍ کومې ناستې دي نو هغه د شیطان پنډغالي دي، چیرته چې شیطانان د دوی سره د آرامۍ مراقبت غونډو په جریان کې په ځینو شیانو ورښودلو، لیدونو او کشفیاتو سره مرسته کوي، نو د تکراري زیږونونو، د ارواګانو لیږد او د وحدة الوجود مفکورې یې ذهن ته ځي او راځي او پدې فکر کې لویږي چې خالق په بوتانو کې منحل شوی، نو عبادت کوونکي یې خپلو اولیاوو ته دا خاطرې او تعلیمات ور په یادوي، نو په خپله ګمراه شي او نور هم ګمراه کړي.

## 14- په کنډوالو کې په ګوښه کېدلو کې څه عیب دی لکه څنګه چې په اوسني هندویزم کې پیښیږي؟

هندویزم د جنسي غریزي او شهوت سره مبارزه کوي، نه دا چې دا مسئله د دوی په اند اخلاقي اړخ لري، لکه څرنګه چې اسلامي شریعت کې دي، بلکې د جسد د سوځولو په خاطر؛ اوسنی هندویزم انسان د رهبانیت لورې ته کشوي او دنیا پرېښودلو ته یې اړباسي.

هندويزم په دې نظر دی چې د غريزې هيرول د جسد په هيرولو سره کيږي.

نو هغه هندو چې موکشا غواړي د خپل بدن د بدبويه کولو لپاره کندوالو ته ځي، او خپل پاتې ژوند د سوالګر په توګه تيروي تر دې چې مړ شي.

دا يو ويجاړونکی عدم توازن دی چې انسان، کورنۍ او ټولنه تباه کوي.

غريزه او شهوت د کورنۍ او ټولنې د جوړولو او د هڅو، زيار ويستلو، او ژوند جوړولو لپاره يوه الهي ډالۍ ده.

د غريزې درملنه د هغې په تهذيب او په طبيعي توګه د هغې په خپلو چينلونو کې په ابېنودلو سره کيږي، نه دا چې جسد وسوځول شي.

دا څوك دی چې وايي زموږ د وجود مقصد پدې کې دی چې د ډوډۍ لپاره سوال وکړو، بيا پاتې ورځ په کندوالو کې تېره کړو تر دې چې مړه شو؟

چا وويل چې موږ دې دنيا ته د دې لپاره راغلي يوو چې زعفراني جامې واغوندو او بيا تر مرګه پورې له ټولې نړۍ څخه ګوښه شو؟

تر ټولو وړوکې حشرات زموږ په پرتله د وجود، د ځمکې د آبادۍ او د ژوند د سمون په اړه ښه درک لري، تاسو ګورئ چې د مچيو ډلګۍ د خپل ځان او د خپلو اولادونو د ښېګڼې لپاره هڅې او کار کوي، او تاسو په کولمو کې تنظيم شوي

کوچنۍ باکتریا مومئ چې هم خپل هم فایده کوي او هم ګټه رسوي.

او په ټوله کې ژوند د قواعدو او کار په واسطه تیریږي.

اوسني هندویزم بې کارۍ، لټۍ او سوالګرۍ ته بلنه ورکوي، سوال کول په هندویزم کې د ژوند یوه تګلاره ګرځېدلې ده.

دلته پوښتنه دا ده چې: د یو هندو لپاره دا څه معنا لري چې له خلکو څخه جلا شي او د غرونو په سرونو او ځایونو کې له آبادیو څخه لیرې واوسیږي، له دې څخه به خلکو ته څه ګټه ورسیږي؟

حقیقي دین او د ژوند سمه طریقه؛ هغه د زحمت، نصیحت، له خلکو سره اختلاط، اصلاح یې او د هغوی په ضرر صبر کولو لاره ده، نه په دښتو او صحراګانو کې له دوی څخه تېښته!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: " المسلِمُ إذا كانَ مخالطًا النَّاسَ ويصبِرُ على أذاهم خيرٌ منَ المسلِمِ الَّذي لا يخالطُ النَّاسَ ولا يصبرُ على أذاهم"[1]. کوم مسلمان چې له خلکو سره یو ځای شي، د هغوی په تکلیف رسولو صبر وکړي، تر هغه مسلمان غوره دی چې له خلکو سره نه یو ځای کیږي او د هغوی په تکلیف رسولو صبر نه کوي".

[1] صحیح سنن ابي داود، : 1692 شمېره حدیث، د حدیث درجه: صحیح.

## ۱۵ - د شهوت پر وړاندې مقاومت او له ګناهونو څخه د خلاصون غوره لاره کومه ده؟

د شهوت او غریزې په وړاندې د مقاومت اصل یو فطري اصل او یو فرض شوی اصل دی، او یو مسلمان د الهي وحې سره سم د شهوت د کنټرولولو طریقه تعقیبوي.

دلته نیکه نکاح، د نظر ساتل، په پټه او ښکاره له الله - تعالی - څخه ویره، او د ګناه له تر سره کولو څخه الهي خبرداری شتون لري.

او د توبې لپاره هم لار شته کله چې یو څوک خطا وکړي او نفس یې کمزوری شي.

خو په هندویزم کې موږ یو هندو ګورو چې موکش ته رسیدل غواړي؛ خپله میرمن، ماشومان او دنده پرېږدي، د سړکونو پر غاړو او کنډوالو کې ویده کیږي، د ډوډۍ لپاره سوال کوي، او په دې ډول خپل بدن سوځوي تر څو چې مړ شي. آیا دا د ځان د تهذیبولو لپاره سمه لار ده؟

هندي پنډتان چې شمېر یې نن په هند کې له پنځو میلیونو څخه ډیر دي، د خپلو اولادونو په ضایع کېدلو سره یوازې پدې ګناه بسنه نه کوي، بلکې دوی پخپله اړ کیږي چې یو څوک یې وساتي او ډوډۍ ورکړي.

اسلام د انساني نفس تهذیب په غوره او محکمه طریقې سره کوي.

اسلام په کلکه دا کار حرام ګرځولی دی چې یو څوک د خپلې کورنۍ (اولادونو) په سرپرستۍ کې ناغیري وکړي،

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: " كفى بالمرءِ إثمًا أن يضيِّعَ مَنْ يقوتُ"[1]. د انسان لپاره دومره ګناه بس ده چې هغه څوک ضايع کړي چې سرپرستي يې ور په غاړه وي.

بيا اسلام وټاکله چې د نفس اصلاح او نظم بايد د نيکو اعمالو په ترسره کولو او د دنيا له پرېښودلو پرته د شهوت په وړاندې په مقاومت سره وشي، په اسلام کې يو سړی کولی شي په خپله ټولنه کې ژوند وکړي او جوړه يې کړي او په عين وخت کې د جسد له سوځولو پرته د الله له عذاب څخه نجات ومومي، لکه څرنګه چې په هندويزم کې - خلک ځان سوځي -.

الله تعالی فرمايلي دي:

{وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾}

{وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾

(او هر چې هغه څوك دی چې د خپل رب په وړاندې له ودرېدلو نه وېرېدلی وي او نفس (ځان) يې له خواهشاتو نه منع کړی وي.

فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾}

نو بېشکه چې هم دا جنت (د ده) استوګنه ده). النازعات سورت.

---

1 هندوان: د دوی مذهبي عقيده او کړنې، جوليوس ج. ليبنر، ۸ مخ.

نو له الله څخه وېره او نېک عمل کول د جنت لار ده، که څه هم ته په یوه مانۍ کې اوسېږې.

د نفس د تهذیبولو لپاره د جسد سوځولو ته اړتیا نشته، الله تعالی فرمایلي دي:

{فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُولَـٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾}

{فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾

(نو ده د غونډۍ په ختلو کې هېڅ تکلیف ونه وېست.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾

او ته څه شي پوه کړې چې (ختل د) غونډۍ څه شی دی؟.

فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾

خلاصول د څټ (ازادول د مریي) دي.

أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾

او طعام ورکول دي په داسې ورځ کې چې د لوږې والا ده.

يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾

يتيم ته چې د خپلوۍ خاوند وي.

أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾

یا مسکین ته چې په خاورو ککړ وي.

ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾

بیا دغه له هغو کسانو څخه وي چې ایمان یې راوړی وي او یو بل ته د صبر وصیت کوي او یو بل ته د مهربانی (او شفقت) کولو وصیت کوي.

أُولَـٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾}

دغه کسان دښي اړخ والا دي) البلد سورت

نو که غواړې جنت وګټې باید غلامان ازاد کړې، مسکینانو ته خواړه ورکړې، نیک کارونه وکړې او خلکو ته په نیکۍ سره وصیت وکړې.

پدې سره ژغورل کیږې.

نه پدې چې د خلکو څخه ځان ګوښه کړې او پاتې عمر دې سوال وکړې!

### ۱۶ - اسلام ولې هندویزم ردوي؟

هندویزم نن ورځ نه یو مذهب دی، نه یوه عقیده او نه هم د عقیدې لور، بلکې د ویداس د فلسفې د پنډتانو تعلیمات، باطني تانترا او د بې شمیره رسومونو او رواجونو یوه ګډوله ده.

له همدې امله، هندویزم اوس یو واحد عبادتي سیستم نه دی، یا د تعریف شویو ځانګړتیاوو سره سم یو دودیز سیستم، یا یو ثابت مذهبي نصاب، یا یو مرکزي مذهبي جوړښت چې هندوان سره یوځای کړي، نن ورځ به تاسو داسې هیڅ شی

ونه مومئ، تاسو په حقیقت کې د زرګونو ټوټه ټوټه مذهبي خپلواکو ډلو په وړاندې قرار لرئ![1]

نو څنګه د الله - تعالی - عبادت په داسې ګډوډ شي سره کیدی شي لکه دا چې هیڅ دلیل پرې نه وي نازل شوی؟

د افکارو دا ګډوډ مخلوط څنګه په ژوند کې د هدف په توګه تاکل کیدلی شي؟

بیا وګورئ چې اوسني هندوان بوتان په خدایۍ سره نیسي او په هغې کې الله تصور کوي!

الله تعالی هغه کسان چې بوتان یې د هغه مجسمې او هغه ته د نږدې کېدلو وسیلې ګرځولې، کافران معرفي کوي، نو هغه پاک ذات فرمایلي دي:

{أَلَا لِلَّـهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّـهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّـهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّـهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ}

{أَلَا لِلَّـهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّـهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّـهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّـهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ}

(خبردار شئ! خاص د الله لپاره خالص دین دی، او هغه کسان چې له هغه نه غیر یې دوستان (کارسازي) نیولي دي (وايي:) مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته نژدې کړي، ښه نژدې کول، بېشکه الله به د دوی په مینځ کې په هغو خبرو کې فیصله کوي چې دوی په هغو

---

[1] (لیویتکس)Leviticus، فصل15، 20-24 شمېرې.

کي اختلاف کوي، بېشکه الله هدايت نه کوي هغه چا ته چې هغه دروغجن، ډېر ناشکره وي) الزمر سورت ۳ آیت.

او هندوانو د دې بُتانو په نيولو سره د ويداس مخالفت وکړ لکه څنګه چې ما مخکې روښانه کړه، او دوی د خپل فطرت څخه سرغړونه وکړه، ځکه چې دوی پوهېږي چې دوی الله تعالی لره په مجسمه کې تصور کولو باندې هيڅ فطري دليل نه لري.

{أَمَّن يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ أَإِلَـٰهٌ مَّعَ اللَّـهِ ۚ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ}

{أَمَّن يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ أَإِلَـٰهٌ مَّعَ اللَّـهِ ۚ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ}

(بلکې هغه ذات چې اول ځلې مخلوق پيدا کوي، بيا به دغه (مخلوق) بېرته ژوندي کوي او هغه ذات چې تاسو ته له اسمان او ځمکې نه روزي درکوي، آيا له الله سره بل معبود شته ؟ ته (دوی ته) ووايه: تاسو خپل دليل راوړئ، که تاسو رښتيني يئ). النمل سورت ۶۴ آيت.

او کله دوی لره دليل شته!

او کله دوی لره دليل شته!

د اوسني هندويزم ستونزه دا ده چې بت پرستي لويوي او د دين له ارکانونو څخه يې يو رکن ګرځوي.

لدې امله بوتان په هر ځای کې دي.

او معبود په بت کې ځای پر ځای کيږي.

په هندويزم کې د بوتانو، انځورونو او تابلوګانو زرګونه ډولونه شتون لري.

هندويزم د بوتانو، د انسانانو د مجسمو او انځورونو په دين بدل شوی دی.

همدارنګه اوسنی هندويزم د وحدة الوجود عقيده لري.

او اوسني هندويزم د عالم په ازليت باور لري.

همدارنګه د طبقاتي ژوند لپاره بنسټ ږدي.

ننی هندويزم وايي چې په انسانانو کې اله ځای پر ځای شوی دی: "اوتار" .

همدارنګه په بوتانو او مجسمو کې د بوتانو د ځای پر ځای کېدو عقيده لري - چې دوی ورته - "شاکتي" وايي.

اوسني هندويزم د روحونو په ليږد باور لري.

او زيږونونو په تکرار باور لري.

او په پنځو عناصرو باور لري او څه چې د هغې اړوند دي لکه: تعويذونه، بندونه، کوډې او له الله پرته په بل چا پورې تړاو درلودل.

د دې ټولو له امله اسلام هندويزم ردوي، ځکه هغه د پيغمبرانو د تعليماتو مخالف دی او توحيد يې هېر کړی دی.

او اسلام هر هندو ته بلنه ورکوي چې الله ته د اسلام له لارې وروګرځي، ځکه د الله په وړاندې لدې پرته بله د خلاصونه - لار - نشته.

الله تعالی فرمايلي دي:

{إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّـهِ الْإِسْلَامُ}

{إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّـهِ الْإِسْلَامُ}

(بېشکه (معتبر) دين د الله په نيز اسلام دی)، آل عمران سورت ۱۹ آيت.

او الله تعالی فرمايلي دي:

{وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}

{وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}

(او څوك چې له اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانيانو څخه دی). آل عمران سورت ۸۵ آيت.

او الله تعالی فرمايلي:

{الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا}

{الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا} (نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو دين مکمل کړ او پر تاسو مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما تاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ کړ). المائدة سورت ۳ آيت.

نو نه خو د هندو لپاره خلاصی شته او نه د هيڅ انسان لپاره پرته لدې دين څخه... چې اسلام دی.

اسلام د ځمکې پر مخ له دينونو څخه يو دين نه دی، بلکې يوازينی توحيدی دين دی چې الله تعالی پرې ټول پيغمبران

راليږلي، ټول پيغمبران د توحيد لوري ته د خلکو د بللو لپاره راغلي دي او نن ورځ له اسلام پرته پدې خالص توحيد باندې بل کوم دين پاتې ندي، پداسې حال کې چې پاتې نور دينونه له شرک څخه خپله برخه لري لږه او يا ډيره.

اسلام له هر څه پرته يوازې د يو الله عبادت دی، د هغه د احکامو اطاعت او د هغه له ممانعتونو څخه ډډه کول او د هغه په حدودو ودرېدل، او په هر هغه څه باور کول دي چې خبر يې پرې ورکړی له هغه څه نه چې شوي دي او يا به کيږي، او له ټولو بوتانو، انځورونو او تابلوګانو څخه ډډه کول دي.

الله پاک فرمايلي دي:

{سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ}

{سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ}

( ستا رب لره پاکي ده چې د عزت (او غلبې) مالك دی، له هغو خبرو نه چې دوی (مشرکان) يې بيانوي) الصافات سورت: ۱۸۰ آيت.

پاک دی الله له هغه څه نه چې هندوان يې پرې يادوي، چې هغه په بتانو کې ځای پر ځای شوی دی.

{وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ}

{وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ}

(او سلام دې وي په رسولانو باندې)

الصافات سورت: ۱۸۱ آيت.

سلام دې وي په هغو رسولانو باندې چې خلکو ته الله وروپيژني، او هغه له هر ډول نقصان او عيب څخه پاک ګڼي.

### ۱۷ - ولې په هر هندو فرض دي چې اسلام راوړي؟

سربيره پر دې اسلام هغه دين دی چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره خوښ کړی او دا هغه الهي قانون دی چې الله تعالی له دې پرته بل نه مني، د دې تر څنګه د هندوانو کتابونه چې کيدی شي په هغو کې څه ناڅه د نبوتونو پاتې شوني هم وي، د اسلام او د اسلام د پيغمبر محمد - صلى الله عليه وسلم - د ظهور په اړه يې ډېر ښه خبرونه هم رانقل کړي دي، او دا هندو اړ باسي چې اسلام ومني او د الله پر وړاندې د قيامت په ورځ د خلاصون په لارې موندلو کې هيڅ ډول تردد ونه کړي.

او زه به د هندوانو له مقدسو کتابونو څخه يو څو زيري ذکر کړم چې د اسلام په اړه يې ورکړي دي.

خو مخکې له دې چې د هندوانو له کتابونو څخه زيري ذکر کړم، خوښ ګڼم د هندوانو د قوانينو د حالت يادونه وکړم او دا چې څرنګه هندو ځان سوځوي، تر څو پاک شي.

او څنګه هندوان غير طبيعي تصوفي دودونه ترسره کوي.

(د دوی) حالات له اهل کتابو نه لرې نه دي، په اهل کتابو په تېره بيا يهودانو هم په پاکوالي او خوراک کې سخت بنديزونه وو او د شرعي احکامو لپاره يې ځانګړي قيودات درلودل چې د هغوی د ظلم، تيري، او فساد له امله پرې لګول شوي وو.

الله تعالی په قران کريم کې فرمايلي دي:

{فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّـهِ كَثِيرًا} {۱٦۰}

{فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيلِ اللَّـهِ كَثِيرًا} ﴿١٦٠﴾ [نو د يهوديان شويو خلکو د ظلم کولو په سبب مونږ پر هغوی باندې هغه پاکيزه څيزونه حرام کړل، چې د دوی لپاره (مخکې) حلال ګرځول شوي وو او په سبب د منع کولو د دوی ډېرو (خلقو) لره د الله له لارې نه]. النساء سورت.

ستا لپاره دا بسنه کوي چې د تورات په ليويتيکس کتاب کې د يهودی ښځې اړوند د حيض احکام ولولئ، تورات وايي:

په هر هغه څه چې (ښځه) د حيض پر مهال څملي هغه نجس دی، او په هر څه چې کيني هغه ناپاک دی، او هر څوک چې د هغې بسترې ته لاس وروړي بايد خپلې جامې ومنځي، په اوبو غسل وکړي، او تر بيګا به ناپاک وي، او په هر شي چې هغه کيني او بيا څوک لاس وروړي نو خپلې جامې به ومنځي او په اوبو سره به حمام کوي، او تر بيګا به ناپاک وي، او که چيرته هغه په يو فرش او يا کالي ناسته وي بيا د دې فرش سره د سړي تماس وشي نو تر بيګا به ناپاکه وي، او که چيرته ورسره سړی د حيض په حالت کې يو ځای شو نو د اوو ورځو لپاره به ناپاک وي، او - پدې موده کې - چې هغه په هر فرش (بسترې) باندې کيني هغه ناپاک ګرځي.[1]

دا سخت حکمونه د بني اسرائيلو د سختۍ او د زړونو د سختوالي له امله وو.

[1] د پيدايښت سفر، : ۴۹ فصل، شميره: ۱-۲ او ۱۰.

الله دوی ته په تورات کې خبر ورکړی دي چې هغه به - دوی ته- یو پیغمبر رالیږي چې دا ټول قیودات به له دوی څخه پورته کړي.

تورات مونږ ته خبر راکوي چې یعقوب - علیه السلام - د مړینې پر مهال خپل دولس زامن راغونډ کړل او هغوی ته یې نصیحت پیل کړ، په تورات کې د یعقوب علیه السلام په مشهور وصیت کې راغلي دي:

او یعقوب خپل اولادونه راوبلل او ویې ویيل: راټول شئ تر څو د هغه څه په اړه خبر درکړم چې په وروستیو ورځو کې تاسې ته درورسیږي، راټول شئ او واورئ اې د یعقوب اولادې، او ستاسو پلار اسرئیل ته غوږ ونیسئ.

...

بیا یې یهوذا ته وویل، او یهوذا د پیغمبرانو هر یو: داود، سلیمان او مسیح علیهم الصلاة والسلام. نیکه دی:

ورته یې وویل:

تر هغه پورې به د نبوت لړۍ په یهوذا کې وي او مشرع ( پیغمبر ) به د هغه له نسل څخه وي تر څو چې شیلون (واکمن) راشي؛ هغه څوک چې ولسونه ورته غاړه ږدي.[1]

---

[1] https://www.christiancourier.com/articles/1101-who-is-the-mysterious-shiloh Rest-giver or peace-bringer.
http://www.abideinchrist.com/messages/gen49v8.html Shiloh is the man of rest, the giver of rest or rest-bringer.

دا متن د اهل کتابو په منځ کې پرته له کوم اختلاف څخه یو لوی او خورا مهم زیری دی!

د هغه چا په اړه زیری دی چې راځي به او نبوت به هغه ته انتقالیږي او واکمني او شریعت به هغه ته لیږدول کیږي.

تر هغه به د واکمنۍ امسا د یهوذا سره وي: قضیب هغې لختې یا امسا ته ویل کیږي چې د شخص پر واکمنۍ دلالت کوي، معنا یې دا ده چې د یهوذا په نسل کې به انبیاء او حاکمان وي.

تر څو چې شیلون راشي، او هغه ته به د خلکو غاړه کېښودل وي.

نو شیلون څوک دی، د چا په اړه چې یعقوب - علیه السلام - وړاندوینه کړې وه چې خلک به یې تابع وي؟

مخکې له دې چې دې پوښتنې ته ځواب ووایو باید پوه شو چې د بني اسرائیلو وروستنی پیغمبر مسیح علیه السلام دی، او هغه د یهوذا له اولادې څخه و.

بیا په ناڅاپه ډول په بنی اسرائیلو کې د پیغمبرانو سلسله ودریده.

نو د یعقوب علیه السلام د خبرداري له مخې فرض کیږي چې باید قدرت، نبوت او شریعت بل چاته انتقال شي؛ هغه چاته چې د یهوذا له اولادې څخه نه وي، وروسته لدې چې پیغمبري په بني اسرائیلو کې ودریده، آیا همداسې نده؟

نو ښکاره ده چې دا شخص مسیح ندی، ځکه چې مسیح - علیه السلام - د یهوذا له نسل څخه و!

او د دې سرې امت به د يهوذا ځمکه تر لاسه کړي لکه څرنګه چې يعقوب -عليه السلام - وړاندوينه کړې وه چې " تر هغه پورې به د نبوت لړۍ په يهوذا کې وي او مشرع (پيغمبر) به د هغه له نسل څخه وي تر څو چې شيلون راشي؛ هغه څوک چې ولسونه به ورته غاړه ږدي. او ژر دی چې د دې راتلونکي پيغمبر امت به واک په لاس کې واخلي... فلسطين به ونيسي، او امت ته به يې لويې امپراطوري تسليم شي!

عمر بن الخطاب رضي الله عنه د خپل خلافت په وخت کې د يهودا خاوره تر لاسه کړه او لبنان، عراق او فارس د اسلام منګولو ته وسپارل شول.

دا حقيقت لرليد يا مناقشې ته اړتيا نلري!

نو تاريخ موږ ته وايي چې د يعقوب - عليه السلام - د زامنو په اړه د يعقوب په وصيت کې ياد شوی نبوت محقق شوی دی او له محمد - صلى الله عليه وسلم - پرته په بل پيغمبر باندې نه دی تطبيق شوی او په جزئياتو کې له -محمد صلى الله عليه وسلم - پرته بل قوم ته نه دی رسيدلی!

مګر د شيلون کلمه څه معنا لري؟

شیلون معنی: آرام ورکوونکی او یا د قیوداتو - Rest- -giver- لرې کوونکی دا هغه معنا ده چې ډیری د کتابیانو څېړنیزو لیکنو سایټونو یې به اړه لیکنې کړې دي.[1]

یعقوب علیه السلام دوی ته د هغه کس زیری ورکوي چې له دوی نه درانه بارونه او هغه بندیزونه چې پر دوی باندې اېښودل شوي دي لرې کوي.

اوس راځئ چې د الله تعالی قول ولولو:

{الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ}

{الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ}. (هغه کسان چې د اُمي رسول (او) نبي پیروي کوي هغه چې دوی یې له خپل ځان سره په تورات او انجیل کې لیکلی مومي، دوی ته د نېکۍ حکم کوي او دوی له بدۍ نه منع کوي او دوی ته پاکیزه څیزونه حلالوي او په دوی باندې خبیث څیزونه حراموي او له دوی نه د دوی درانه بارونه لرې کوي او هغه قیدونه هم چې پر دوی وو). الأعراف سورت ﴿۱۵۷﴾ آیت.

---

[1] وړاندې لدې چې د هندویزم زیرې بیان کړو؛ د یعقوب - علیه السلام - په زیرې کې د هغه زامنو ته مې په تفصیل سره بیان کړل، ځکه چې دا د اسلام څخه بهر د اسلام د اعتبار خپلواک ثبوت دی.

وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ: (اسلام بخښونکی او آسانه شریعت راغی چې ټول بارونه او بندیزونه يې لرې کړل).

اوس راځئ چې د هندوانو کتابونو ته انتقال شو.[1]

او هندویزم یوه بله تګلاره ده لکه څرنګه مې چې یادونه وکړه، په سختو دودیزو مراسمو ډکه ده چې له ګناهونو څخه د پاکولو لپاره شهوت سوځوي.

له بله اړخه ګورو چې د هندوانو کتابونه په یو لوی نبي سره زیری ورکوي؛ هغه څوک چې له دوی څخه د دوی پېټي سپکوي او دوی له ګناه څخه پاکوي.

د هندوانو کتابونه وايي: "کالکي په دولسم قمري د مادهو په میاشت کې زیږیدلی دی"[2]

کالکي معنا: د ګناهونو پاکوونکی.

او د مادهو میاشت: د پسرلي میاشت ده چې خلک يې خوښوي.

راتلونکی پیغمبر چې دوی به له ګناهونو څخه پاکوي د پسرلي میاشتې په دولسمه نیټه زیږیږي.

---

1 کلکی پران، ادهیای: ۲، شلوک: ۱۵.

2 صحیح السیرة النبویة، محمد بن ناصر البانی، ۱۳ مخ، له: اسلام ته د هندوانو بلنه؛ له کتاب څخه نقل شوی دی، د دوکتوراه رساله چې: ډاکټر. ابراهیم عبدالغفور چمتو کړې ده، ۱۹۸ مخ.

او محمد - صلى الله عليه وسلم - د ربيع الاول د مياشتې په دولسمه نېټه زيږيدلی، لکه څرنګه چې د مسلمانانو جمهورو علماوو ته معلومه ده. [1]

او د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - د زيږيدو د ځای په اړه، نو د هندوانو په کتابونو کې داسې راغلي دي: کالکي به د شمبهل په کلي کې پيدا کيږي، د بيت الله د ساتونکو سره، د داسې يو سړي په کور کې چې هغه به وشنوياش نوميږي.[2]

او د شهمبل له کلي څخه مراد: د امن ښار دی.

او د امن ښار هغه مکه ده.

{وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَـٰذَا بَلَدًا آمِنًا}

{وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَـٰذَا بَلَدًا آمِنًا} (او کله چې ابراهيم وويل: ای زما ربه! دا (ځای) امن ناکه ښار جوړ کړه). البقرة سورت ﴿١٢٦﴾ آيت.

او نبي - صلى الله عليه وسلم - په مکه کې زيږيدلی دی.

او دا وينا چې "د شنوياش په نوم د يو سړي په کور کې" نو شنوياش معنا ده: عبد الله،

او د دې راتلونکي پيغمبر مور هغې ته سومتي ويل کيږي: "کالکي به د شنوياش په کور کې د هغه له ميرمنې پيدا کيږي چې نوم يې سومتي دی"[3]

---

1 کالکی پران، ادهيای: ٢، شلوک: ۴.

2 کالکی پران، ادهيای: ٢، شلوک: ١١.

3 حاکم په المستدرک کې روايت کړی او ويلي يې دي: د دې حديث اسناد صحيح دی.

او سومتي له امن څخه اخیستل شوی .... چې معنا یې ده : آمنه

او دا ښکاره خبره ده چې د محمد بن عبد الله - صلی الله علیه وسلم - د مور نوم آمنه ده.

د هندویزم له مخې، کالکي به له خپل کلي شمبل څخه راوځي، له شیطان سره به جګړه کوي، او تیارې، فساد او ظلم به له منځه وړي، او بیا به په وروستیو ورځو کې بیرته ورستون شي، او له هغې وروسته به یې الله اسمان ته پورته کړي.

او هر مسلمان پدې حقیقت پوهیږي، چې نبي؛ محمد بن عبد الله؛ صلی الله علیه وسلم مکه د مدینې په لور پریښوده، په خلکو کې یې توحید خپور کړ، بیا له مرګ څخه یو څو کلونه مخکې فتحه کوونکی مکې ته راستون شو،

او هندویزم دې پیغمبر ته ځینې اضافي صفتونه ذکر کړي دي چې مونږ ورسره موافق نه یو، لکه کالکي چې د هغوی په اند هغه چاته ویل کیږي چې الله پکې منحل شوی وي - لکه د دوی عادت - چې دی، ډېر پورته اولوړ دی الله تعالی د دوی لدې باور څخه، او لدې وړاندې مو په تفصیلي توګه پر دې تور باندې د ویدا له کتابونو څخه رد وکړ.

نو الله تعالی په خپلو بندګانو کې نه ځای پر ځای کیږي او نه یې اسمانونه او ځمکه هغه نشي راګیرولی.

خو یوه ځانګړنه چې ما د دې پیغمبر په اړه د دوی په کتابونو کې ولیده او زه یې په فکر کې کړم؛ دا وه چې هغه به

په سپین آس سپور وي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سپین آس درلود چې المرتجز نومیده[1] .

د هندوانو مجسمې د راتلونکي پېغمبر کالکي انځور داسې انځوروي چې په سپین آس سپور و او توره یې په اوږه پورته کړې وه، او د کالکي ټول انځورونه او مجسمې مې چې په هندویزم کې ولیدې په دې بڼه انځور شوې وې.

هغه یو مجاهد پیغمبر دی او دا د محمد بن عبدالله -صلی الله علیه وسلم- صفت دی، ځکه چې هغه په توره جنګیدلی او د الله - تعالی - له دښمنانو سره یې جنګ کړی دی.

همدارنګه د راتلونکي پیغمبر کالکي له ځانګړنو څخه د دوی په کتابونو دا دي چې هغه له غیبو خبر ورکوي، او هغه به د خپل قوم له غوره خلکو څخه وي، لرې خبرې کوونکی به وي، سخي به وي، قوي جوړښت به لري او د یو چا په نیکۍ به اقرار کوي.

"خو له ځانګړو صفاتو څخه به یې دا وي چې: کالکي به د خپلو څلورو یارانو په مرسته شیطان هلاکوي".[2]

او یو مسلمان چې کله دا متن لولي نو ذهن ته یې پرته له : أبوبکر صدیق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان او علي بن أبی طالب- رضي الله عنهم - څخه پرته بل څوک نه راځي.

---

1 کالکی پران، ادهیای: ۲، شلوک: ۵.

2 کالکی پران، ادهیای: ۲، شلوک: ۷.

نو دا د پيغمبر صلى الله عليه وسلم تر ټولو نږدې ملګري دي، او همدوی وو چې د دعوت له پیل څخه يې د ده ملاتړ وکړ، او همدوی ورڅخه وروسته خليفه ګان وو.

نبي - صلى الله عليه وسلم - له صحابه کرامو څخه څلور سوچه ځانګړې ملګري درلودل چې ورته نږدې وو، او په واقعي توګه يې ورڅخه د دعوت په لار کې ملاتړ وکړ.

دوی هغه کسان وو چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له وفات څخه وروسته يې په ترتيب سره د مسلمانانو خلافت رهبري کړ.

1- ابو بکر الصديق.

2- عمر بن الخطاب.

3- عثمان بن عفان.

4- علي بن ابي طالب.

او د علي بن ابی طالب رضي الله عنه په وژلو سره راشده خلافت پای ته ورسيد.

او د کالکي له نښانو څخه دا هم دي چې په جنګونو کې به يې د مرستې لپاره پرښتې له آسمان څخه راکوزيږي.[1]

دا د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - په زمانه کې د اسلامي جهاد له ځانګړنو څخه يوه ځانګړنه وه، لکه څرنګه چې د هغه - صلى الله عليه وسلم - په غزاګانو کې پرښتې له آسمانه راښکته شوې، الله تعالى فرمايلي دي:

---

1 کالکي پران، ادهای ۳، شلوک ۱-۵.

{إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ}

{إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ}

(کله چې تاسو له خپل رب نه مرسته وغوښته، نو هغه ستاسو دعا قبوله کړه چې بېشکه زه ستاسو مرسته کوونکی یم په زرو ملایکو سره، چې په یو بل پسې به راتلونکي وي) الأنفال سورت ۹ آیت.

او د هندوانو په کتابونو کې -راغلي چې - کالکي به غره ته ځي چې له ستر پاچا "براش رام" څخه زده کړې وکړي او بیا د شمال لور ته مخه کړي او بیا بېرته خپل کلي ته راستون شي مخکې لدې چې الله یې آسمان ته پورته کړي.[1].

او د هندوانو په وینا براش رام یو لوی پاچا دی چې کافرانو ته عذاب ورکوي، او هغه د مسلمانانو په اند جبرائیل دی.

او په ریښتیا هم چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - مخکې د حرا غره ته تللی و او جبرائیل علیه السلام پر هغه نازل سو، بیا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - شمال لوري ته روان سو او مدینې ته یې هجرت وکړ. او بیا د خپل مرګ څخه لږ کلونه مخکې مکې ته فاتح راوګرځید.

او کالکي د هندوانو په کتابونو کې وروستی پیغمبر دی .[2]

---

1 بهګوت پران، اسکند: ۱، ادهیای: ۳، شلوک: ۲۵.

2 اتهر وید، کند: ۲۰، سوکت: ۱۲۷، منترا: ۲.

او ښکاره ده چې پيغمبر محمد - صلى الله عليه وسلم - د پيغمبرانو او رسولانو وروستى دى.

{مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَـٰكِن رَّسُولَ اللَّـهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّـهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا}

{مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَـٰكِن رَّسُولَ اللَّـهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّـهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا}. (محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار نه دی او لېکن د الله رسول دی او د نبيانو (د لړی) ختموونکی دی او الله په هر شي ښه عالم دی) الأحزاب سورت ۴۰ آيت.

د راتلونکي پيغمبر تفصيل د هندوانو په کتابونو کې داسې ذکر شوی دی چې: "د ډيرې ثنا خاوند ... نراشنس".

نو د نراشنس معنا ده: د ډيرې ثنا خاوند.

يعني محمد او احمد

او دواړه نومونه د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دی، هغه محمد او احمد دی.

د نراشنس له صفتونو څخه دا دي چې «د هغه سپرلی به اوښ وي، او دولس مېرمنې به ولري، او هغه په خپلې سپرلۍ سره اسمان ته ورسيږي او بيا به رابنکته کيږي»[1]

دا صفتونه د محمد - صلى الله عليه وسلم - څخه پرته په بل چا نه تطبقيږي.

---

1 اسلام ته د هندوانو بلنه، د دکتورا تيزس دی چې د . ابراهيم عبدالغفور، لخوا چمتو شوی ۲۱۵ مخ.

دا چې د هغه سپرلۍ به اوښ وي؛ دا د هغه - صلی الله علیه وسلم - له حالت څخه معلومیږي، او په مناسبت سره دې کې یوه مهمه اشاره ده، سره لدې چې د هندوانو په کتابونو کې دا خبره راغلې ده چې هغه به د پیغمبرانو وروستی وي. خو هغه به د موټرو او الوتکو څخه وړاندې لیږل کیږي.[1]

او پدې کې یو بل څه ته اشاره هم شته چې دا راتلونکی پیغمبر به د براهمه هندوانو څخه نه وي ځکه چې دوی اوښان حراموي.

او دا چې هغه دولس میرمنې لري، نو دا د محمد - صلی الله علیه وسلم - له سیرت څخه معلومه ده.

او دا چې هغه به خپله سپرلۍ تر آسمانه رسوي او بیا به راښکته کیږي، نو دا د اسراء او معراج د سفر حالت دی چې هر مسلمان پرې باور لري، کله چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - آسمان ته وخوت.

په همدې څپرکي کې، د هندوانو کتابونه د نراچنس د هجرت په اړه خبرې کوي او د هغه ښه ستاینه کوي، نو وایي: "اې خلکو، د نراچنس درناوی وکړئ، زه هغه مهاجر امن ټینګوونکی په یاد لرم ."[2]

هغه مهاجر: د پیغمبر -صلی الله علیه وسلم ـ په سیرت کې ترټولو لویه پیښه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم هجرت دی چې

---

1 اتهر وید، کند: ۲۰، سوکت: ۱۲۷، منترا: ۱.
2 اتهر وید، کاند: ۲۰، سکوت: ۱۲۷، منترا: ۵ او ورپسې.

له مکې څخه يې مدينې ته د خلکو تر منځ د امن او توحيد خپرولو په موخه کړی دی.

او په ورپسې منترا کې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د جهاد په اړه وينا کوي، نو وايي" د ثنا ويونکو سره ثنا ويونکی چې جنګونو ته وځي او خلکو ته امن ورکوي."[1]

هغه مجاهد پيغمبر دی چې د الله په لاره کې په جهاد کولو سره د خلکو په منځ کې امنيت خپروي.

او د هغوی په کتابونو کې داسې لسګونه نور دلايل شته چې په اسلام، د اسلام په پيغمبر، د هغه په سيرت، د هغه په دعوت او په مکه مکرمه زيری ورکوي.

ښايي ځينې هندوان له دې نصوصو سره اختلاف ولري او ښايي انکار وکړي چې په ښکاره ډول يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته اشاره کړې ده، خو دا هغه خبرې دي چې هندو څېړونکی پرې بايد له حق څخه ډير ځان مشغول نه کړي، دا زيري په اصل کې يوازې د ډاډګېرنې لپاره دي نه لدې څخه زيات، لدې امله د زېرو په يادولو کې خبره نه اوږدوم، ځکه چې زيات او بيلابيل ډولونه دي. ځکه چې د اسلام په صحت تر ټولو ستر ثبوت په خپله د اسلام رسالت، توحيد ته بلنه، فطري غوښتنه، او د ځمکې پر مخ د بل هر دين خالي کيدل لدې څخه چې د انسان غوښتنې دې په بشپړه توګه پوره کړي، تر څو د انسان په هدف او تګ ځای پوه شي.

---

1 النبأ العظيم، ډاکټر. عبدالله دراز - رحمه الله - ۴۴-۴۵ مخونه.

په ځمکه کې له شکمنو بت پرستيو، شرکياتو او الحاد پرته بل څه پاتې نه شول، او په خالص توحيد، او د الله په پاکوالي پرته له اسلام څخه نور څوک پاتې نه شول.

{قُلْ هُوَ اللَّـهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اللَّـهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾}

{قُلْ هُوَ اللَّـهُ أَحَدٌ ﴿١﴾

[(اې نبي!) ته (دوی ته) ووايه: شان دا دی چې الله يو دی.

اللَّـهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾

هم دا الله بې نياز (بې حاجته) دی.

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾

نه يې (څوك) زېږولي دي او نه دی (له چا) زېږول شوی دی.

وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾}

او د ده هيڅوك سيال (او) برابر نشته]

د الاخلاص سورت.

### ۱۸ - اسلام څه شی دی؟

ج: اسلام: الله پاک ته تسليمېدل، سر ټيټول او غاړه اېښودلو ته اسلام وايي.

الله پاک فرمايلي دي:

{وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّـهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۗ وَاتَّخَذَ اللَّـهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا}

{وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّـهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۗ وَاتَّخَذَ اللَّـهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} (او د دين په لحاظ له هغه كس نه څوك زيات ښه دى، چې خپل مخ يې الله ته تابع كړ او هغه نېكي كوونكى و او د ابراهيم د ملت تابع شو، چې يواځې په حق پسې تلونكى و، او الله ابراهيم لره خليل نيولى دى). النساء سورت: ﴿١٢٥﴾ آيت.

او د أسلم وجهه لله معنا : يعني الله ته تسليم شو، او غاړه يې ورته كېښوده؛ هغه لوړ او مقدس ذات ته، نو دا - انسان- په دين كې تر ټولو ډېر غوره دى.

او الله تعالى فرمايلي دي:

{فَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا ۗ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ}

{فَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا ۗ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ}

(نو ستاسو حق معبود يو معبود دى، نو تاسو خاص هغه ته غاړه كيږدئ او عاجزي كوونكو ته زيرى وركړه) الحج سورت ﴿٣٤﴾ آيت.

او د : فله أسلموا معنا دا ده چې د هغه حكم او پريكړو ته تسليم شئ.

نو دا آيتونه پدې دلالت كوي چې د اسلام معنا؛ الله تعالى ته مطلق غاړه اېښودل او د هغه پيروي كول، او د هغه د شريعت او منهج قبلول او پرې خوشحاليدل دي، او همدا د اسلام ګوهر او حقيقت دى.

نو اسلام؛ الله تعالى ته د هغه په پريكړو او شريعت ته غاړه ايښودل دي.

اسلام ټول بشریت ته د الله تعالی دین دی، الله تعالی فرمایي:

{إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّـهِ الْإِسْلَامُ}

{إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّـهِ الْإِسْلَامُ}

(بېشکه (معتبر) دین د الله په نيز اسلام دی) آل عمران سورت ۱۹ آيت.

نو اسلام هغه دین دی چې الله تعالی له هغه پرته نور دينونه نه مني.

{وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}

{وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}

(او څوک چې له اسلام نه غیر (بل) دین غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانیانو څخه دی). آل عمران سورت ۸۵ آيت.

اسلام هغه دين دی چې الله تعالی پرې ټول انبياء او رسولان رالیږلي دي، د انبیاوو دین یو دی او هغه د اسلام دی او ټول انبیاء - علیهم السلام - په توحید سره راغلي دي، که څه هم د هغوی شریعتونه سره توپیر لري.

الله تعالی فرمایلي:

{وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَـٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ}

{وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَـٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ}

(او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لیږلی مګر چې هغه ته به مونږ (دا) وحې کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ). الأنبياء سورت ۲۵ آیت.

او پرته له اسلام څخه پدې توحید نور دینونه پاتې نه شول.

اسلام نن ورځ په ځمکه کې یوازینی توحیدي دین دی.

په داسې حال کې چې ټول هغه کسان چې د نورو دینونو څخه پیروي کوي په شرک کې ونښتي لږ یا ډېر، ځکه د انبیاوو له وفات وروسته او وروسته له هغه چې خلک یې په توحید پرېښودل، خلکو د وخت په تېریدو سره شرکي عملونه وکړل او نن ورځ هیڅ دین په خالص توحید پاتې ندی پرته له اسلام څخه، هغه اسلام چې پیغمبرانو علیهم السلام پرې راتګ کړي وو.

نو د اسلام د سموالي تر ټولو لوی ثبوت چې یو هندو باید ورته پاملرنه وکړي د دې دین خالص توحیدي پیغام دی.

***۱۹ - آیا په اسلام کې هغو پوښتنو ته ځواب شته چې ذهنونه یې په ځواب کې حیران پاتې دي چې: موږ له کوم ځایه راغلي یو؟ موږ ولې دلته په دې نړۍ کې یو؟ او برخلیک مو چیرته ته دی؟***

ځواب: اسلام دې ټولو پوښتنو ته د قرانکریم په یوه آیت کې ځواب ورکړی، زموږ پاک رب -سبحانه و تعلی- فرمایلي دي:

{وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ}

{وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ}
(او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه یې پیدا کړی یم او خاص هغه ته به تاسو بېرته بېول کېږئ) یس سورت ۲۲ آیت.

له کوم ځایه راغلی یې؟ الله پیدا کړی یم، (الَّذِي فَطَرَنِي). هغه ذات چې زه یې پیدا کړی یم.

او زه چېرته تلونکی یم؟ ژر دی چې د الله لوري ته به لاړ شم تر څو راسره زما په کړنو حساب وکړي.

زه ولې دې نړۍ ته راغلی یم؟ د الله - تعالی - د عبادت لپاره او د دې لپاره چې وازمایل شم.

زه ولې د الله عبادت کوم؟ طبیعي خبره ده چې زه د هغه الله عبادت کوم چې زه یې پیدا کړم، ځکه چې د بنده او د هغه د رب تر منځ د اړیکو طبیعت همدا دی... چې بنده د خپل رب او خپل خالق عبادت وکړي (وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي). (او زه ولې د هغه ذات عبادت ونه کړم چې زه یې پیدا کړی یم).

یو آیت د دریو خورا مهمو پوښتنو ځوابونه راټول کړي دي چې انسان ورته حیرانیږي.

{وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ}
{وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ}. (او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه یې پیدا کړی یم او خاص هغه ته به تاسو بېرته بېول کېږئ) یس سورت ۲۲ آیت.

## ۲۰ - ته څنګه پوه شوې چې محمد - صلی الله علیه وسلم - د الله لخوا رسول دی؟

ځواب: د اعجازي دلیلونو زیاتوالی د معنوي تواتر او بشپړ یقین څرګندونه کوي.

ارسطو د خپلو اثارو د مجموعې له مخې فیلسوف دی، پداسې حال کې چې نه یې یوه جمله ویلې او نه یې کوم فلسفي تحلیل تر سره کړی دی.

او هیپوکریټس (ابقراط) په خپلو طبي پروژو سره یو ډاکټر دی پداسې حال کې چې هیڅ کوم جراحي عملیات یې ندی کړی.

همدا رنګه د محمد - صلی الله علیه وسلم - څخه د زیاتو اعجازي دلیلونو رانقلیدل د معنوي تواتر او بشپړ یقین په معنا دی چې هغه پیغمبر دی.

نو کله چې ته د هغه - صلی الله علیه وسلم - ژوند لیک (سیرت) ته وګورې هغه به یو رېښتونی انسان ومومې، پداسې حال کې چې د سرسختو دښمنانو په اقرار سره هغه په رېښتینولۍ مشهور و او په هغه باندې د دروغو او بې لاریتوب کوم تور نه و لګیدلی، بیا هغه له غیبو څخه خبر ورکاوه نو همغسې به پېښېدل لکه څرنګه یې چې خبر ورکاوه، بیا دا هغه پیغمبر دی چې نورو پیغمبرانو پرې زیری ورکړی و او د هندوانو مقدسو کتابونو یې هم په راتګ سلګونه کاله د هغه له راتګ څخه مخکې زیری ورکړی و، نو دا ټول دلیلونه د هغه

د رسالت ریښتینولي د معنوي تواتر او بشپړ یقین درجې ته رسوي.

بیا د هغه ترټولو لوی آیت په اړه څه وایئ، چې قرآن کریم پرې راتګ کړی؟

هغه قرآن چې الله پرې د فصاحت خاوندان ننګولي، چې د هغه په څېر یو بل - قرآن - راوړئ او یا یې د سورت په څېر یو بل سورت راوړئ، نو دا یې ونه کړای شول.

{أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّـهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ} ﴿٣٨﴾ سورة يونس.

(آیا دوی وایي چې ده دا له ځانه جوړ کړي دي، ته (دوی ته) ووایه: نو تاسو یو وړوکی سورت د ده په مثل راوړئ او له الله نه پرته چې څوك کولی شئ راوبلئ، که چېرې تاسو رښتیني یئ).

او الله تعالی په قرآن کریم فرمایلي دي:

{وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّـهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾}

{وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّـهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴿٢٣﴾. (او که تاسو د هغه (قرآن) په هکله په کوم شك کې یئ چې مونږ پر خپل بنده نازل کړی دی، نو د ده غوندې یو وړوکی سورت راوړئ، او له الله نه پرته خپل مددګاران راوغواړئ، که تاسو رښتوني یئ.

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾}

نو كه تاسو (دا كار) ونه كړ او كله به يې هم ونه كړى شئ، نو له هغه اور نه ځان وساتئ چې خشاك يې انسانان او كاڼي دي، د كافرانو لپاره تيار كړى شوى دى) البقرة سورت

د لوى ځښتن دې وينا ته پام وكړه:

{لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا}

{لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا. تاسو(دا كار) ونه كړ او كله به يې هم ونه كړى شئ. البقرة سورت ۲۴ آيت.

نه يې دا كار وكړ، او نه پرې وتوانيدل.

او په دوامداره توګه قرانكريم د مشركانو اديبان او د فصاحت خاوندان وننګول، بيا هم په دې ټولو كې دوى د - قرآن كريم - د مخالفت كولو په اړه زړه نازړه او بزدله شول او له بيلګې راوړلو يې ناتوانه شول.

دكتور عبدالله دراز - رحمه الله - وايي: آيا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - پدې ننګونې سره نه ډاريده چې دا به د دوى ادبي ملاتړ راوپاروي؟.

نو په وړاندې به يې د مبارزې لپاره راوپاريږي پداسې حال كې چې محتاط به وي، او هغه به بيا څه وكړي كه چيرته د دوى د اديبانو يوه ډله د داسې يوې وينا په راويستلو هوكړه وكړي چې په ځينو برخو كې د دې وينا په څېر وي.

بیا که د هغه نفس هغه دې ته اړباسي چې د خپل وخت په خلکو دا حکم صادر کړي، نو په راتلونکو نسلونو به یې څنګه صادر کړي؟

دا له خطره ډکه هڅه ده، چې که څوک د خپل ځان په قدر پوه شي نو اقدام به پرې ونه کړي مګر پداسې حال کې چې لاسونه یې له قضایي تصرفونو، او اسماني خبرونو ډک وي، (یعنې الهي ملاتړ ولري) او بیا یې همداسې د نړۍ د ننداړو منځ ته وروغورځوي، نو دا به قاطع قضاوت وي، او هر څوک یې چې مخالفت وکړي نو د ښکاره بې وسۍ او بې شرمه ناکامۍ سره به ټول عمر مخ شي."[1].

دغو مشرکانو ولیدل چې د رسول الله - صلى الله علیه وسلم - سره د جګړې لپاره د لښکرو راغونډول او د ګوندونو جوړول د قرآن له مخالفت او د ننګونې له منلو څخه ډیر آسان کار دی، نو دا د دوی ستره هڅه وه.

{وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ}

{وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ}. (او کافران شوي کسان وایي : تاسو دغه قرآن ته غوږ مه ږدئ او په (تلاوت د) ده کې شور ماشور اچوئ، ښایي چې تاسو غالبه شئ). فصلت سورت ۲۶ آیت.

---

[1] صحيح البخاري، : ۴۸۵۴ شمېره حدیث.

نو نه عربو او نه هم نورو هغه قومونو چې دا ننګونه ورته رسيدلي وه داسې څه راوړل چې ملحدان پرې هوسا شي او نورو ته پرې هوساينه ورکړي.

الوسي - رحمه الله - فرمايي: "تر نن ورځې پورې نه چا په شونډو خبرې وکړې او نه يې کوم صفت او موصوف بيان کړ".

جبير بن مطعم چې لا يې اسلام نه و قبول کړی، وايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې الطور - سورت - يې په ماښام کې تلاوت کاوه او کله چې دې آيت ته ورسېد:

{أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾}

{أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾

(آيا دوی بې له څه شي پيدا کړی شوي دي، يا هم دوی، پخپله پيدا کوونکي دي؟

أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾

ايا دوی آسمانونه او ځمکه پيدا کړي دي؟ بلکې دوی يقين نه کوي.

أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾}

ايا له دوی سره ستا د رب خزانې دي، يا هم دوی واکدران دي). الطور سورت.

هغه وويل: نږدې وه چې زړه مې والوځي.[1]

نو په قرانکريم کې داسې حيرانونکي رازونه دي چې د انسان روح ته رسيږي.

نو فکر وکړه چې د مشرکانو ښځې څنګه د ابوبکر د کور خواوشاته په جم او جوش سره راغونډېدلې کله به چې هغه قرآن تلاوت کاوه، د زياتې ليوالتيا او اغيزې له امله چې پرې يې درلوده، تر دې چې پدې کار د قريشو نارينه وويريدل.[2]

لدې امله د قريشو استازي سره پدې سلا شول چې قرآن به نه اوري، او نه به يې خپلو اولادونو ته وراوروي، ځکه همدا په کفر د پاتې کيدو يوازينۍ لار ده.

د قرآن کريم له عجايبو څخه چې نه خلاصيدونکي دي هغه څه دي چې ډاکټر عبدالله دراز - رحمه الله - په بېلابېلو وختونو کې د قرآن کريم د آيتونو د نزول په اړه ذکر کړي دي، بيا رسول الله - صلی الله عليه وسلم- د سورتونو په منځونو کې په ځانګړو ځايونو کې د ځينو آيتونو ايښودلو او په نورو سورتونو کې د يو لړ نورو آيتونو ځای پر ځای کولو ته اشاره کړې ده، بيا يې په اخر کې هر يو سورت د يو ځانګړې ساختمان په څېر ښکاريږي، پر هغه دې الله ورحميږي بيا وايي: د قرآن د نزول پر مهال په قرآن کې ځينې موضوعات له نورو موضوعاتو څخه په جلاوالي کې زياتېدل او په تدريجي ډول يې د نورو آيتونو له نازلېدو وروسته خپلواک واحدونه جوړ کړل او ځينې نور آيتونه يو له بل سره تداخل

---

1 صحيح البخاري، : ٣٩٠٥. شمېره حديث.

2 کتاب: مدخل الی القران الکريم، د. عبدالله دراز

لري، دا هر څه به د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د امر سره سم تر سره کېدل او هغه به په خپل وار سره له جبریل - علیه السلام - څخه لارښوونې اخیستلې.

که موږ بې شمیره تاریخونه په پام کې ونیسو - د قرآن کریم د آیتونو د نزول نیټې - او موږ یادونه وکړو چې دا وحې عموما په ځانګړي شرایطو او فرصتونو پورې تړلې ده، دا موږ د هغه وخت په اړه پوښتنې کولو ته اړ باسي چې هر سورت پکې په بشپړ ډول د یو ځانګړې ساختماني واحد په توګه تنظیم شوی دی.

لکه قرآن چې د یوې پخوانۍ لرغونې ودانۍ شمېرل شوې ټوټې وې، چې د پخوا په څېر په یو بل ځای کې یې د بیار غونې اراده شتون ولري، که نه نو څنګه کیدی شي د سملاسي او منظم ترتیب په اړه یې وضاحت ورکړل شي، په هغه برخه کې چې د ډیرې سورتونو پورې اړه لري.

مګر د راتلونکو پیښو په وړاندې د داسې پلان جوړولو پر مهال انسان څه ډول تاریخي تضمین، د هغه قانوني غوښتنې، او مطلوب حلونه ترلاسه کولی شي؟ برسېره پر دې چې دا حلونه په کوم ژبني شکل کې وړاندې شي او د دې سورت پر ځای د بل سره اسلوبي مطابقت ولري؟

ایا موږ دې نتیجې ته نه رسیږو چې د دې پلان بشپړیدل او په مطلوب ډول یې پلي کول د یو لوی خالق مداخلې ته اړتیا لري چې د دې مطلوبې همغږۍ رامنځته کولو وړتیا لري؟"[1].

نو قرآن کریم د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - په ریښتینولۍ یوه خپلواکه معجزه ده.

او هغه معجزې چې د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - په لاس اجرا شوې دي له زرو ډیرې زیاتې دي او په لنډ وخت کې تیرې شوې دي، او هغه څه چې مونږ ته رانقل کړي دي تر ټولو ریښتیني او نیکان خلک دي.

او دا راویان چې موږ ته یې دا معجزې رانقل کړي دي، په ډیرو وړو کارونو کې یې دروغ ویل روا نه بلل، نو څنګه کیدی شی چې پر هغه دې دروغ ووایي، پداسې حال کې چې هغوی پدې پوهیږي چې څوک پر هغه دروغ ووایي نو د ځان لپاره دې په اور کې ځای ناستی وټاکي، لکه څرنګه چې هغه - صلی الله علیه وسلم- مونږ لدې څخه ویرولې یو.

او د هغه - صلی الله علیه وسلم- ځینې معجزې د هغه شاوخوا زرګونو صحابه کرامو لیدلې وې، او ځینې یې داسې دي چې په لسګونو کسانو روایت کړي دي، نو دا څنګه کېدای شي چې په دې ټولو کې دې په دروغو سره موافقه وکړي؟

د هغه د معجزو یوه بیلګه چې د خلکو لویه ډله پکې حاضره وه: د خرما د ډډ ژړا وه چې دا یو مشهور او متواتر حدیث

---

[1] البخاري (1217)، البخاري (2618)، البخاري (3578)، البخاري (4101) او البخاري (6452) . دا ټول مختلف واقعات او حقایق دي او دا یوازې په بخاري کې راغلي دي!

دی؛ پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - به د خرما په یو ډډ خطبه ورکوله، نو کله چې ورته ممنبر جوړ شو او پرې وخوت او خطبه يې ورکړه نو د خرما هغه تنه په ژړا شوه، او لکه د ماشوم په څېر ژړا يې کوله، او تر هغه يې ژړا کوله تر څو چې پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - په غيږ کې ونیوه او ځانته يې رانيږدې کړه، نو بیا چپ شوه.

دا حدیث له صحابه و څخه: انس بن مالک، جابر بن عبد الله، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر، أبی بن کعب، أبو سعید، سهل بن سعد، عائشة بنت ابی بکر او ام سلمه رضي الله عنهم روایت کړی دی.

نو آیا دومره شمېره صحابه به په داسې یو روایت لکه دا؛ په دروغو باندې سره سلا وکړي؟

په حقیقت کې د هغه ځینې معجزې په زرګونو صحابه کرامو لیدلې وې، لکه د هغه د عزتمندو ګوتو تر منځ د اوبو چینه راوتل تر دې چې اودس يې ترې وکړ او یو زرو پنځه سوه اصحابو ترې اوبه وڅښلې، دا حدیث متواتر دی او بخاري او مسلم روایت کړی دی.

او د لږو خوړو ډیریدل تر څو ترې یو لوی لښکر خوراک وکړي دا هم د صحابه کرامو له متواترو روایتونو څخه دي او یوازې بخاري د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - په لاس د خوړو د زیاتوالي معجزې په پنځو ځایونو کې ذکر کړي دي.[1]

---

1 صحیح مسلم، : ۳۳۱۹ شمېره حدیث.

که د صداقت دلیلونه ثابت وي او د هغه - صلی الله علیه وسلم - په نبوت معجزې ډېرې وي، نو یو عاقل سړی څنګه لدې ټولو څخه انکار کولی شي او دروغ یې ګڼلی شي؟.

او دا ځینې نور واړه مثالونه دي چې د هغه - صلی الله علیه وسلم - په معجزو دلالت کوي.

له شپو څخه یوه شپه پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - د تېزې سیلۍ د رالوتلو خبر ورکړ، او خلک یې له راپورته کیدو څخه منع کړل، نو یو سړی راپاڅېده، سیلۍ په هوا کړ او له خپل ځای څخه یې په یو لرې ځای کې یې وغورځاوه.[1]

او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - د نجاشي له مړینې څخه خبر ورکړ، په کومه ورځ چې هغه وفات شوی و، او څلور تکبیرونه یې پرې وویل(جنازه یې پرې وکړه).[2]

او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - د عمر، عثمان، علي، طلحة او زبیر رضي الله عنهم اجمعین د شهادت وړاندوینه وکړه، او دا چې دوی به په خپلو بسترو کې نه مړه کیږي لکه څرنګه چې نور خلک مړه کیږي.

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - یوه ورځ له ابوبکر، عمر، عثمان، علي، طلحه او زبیر - رضی الله عنهم - سره غره ته وخوت، نو یوه تیږه وخوځیده، رسول الله - صلی الله

1 صحیح البخاري، : ۱۳۳۳.شمیره حدیث.
2 صحیح مسلم، : ۲۴۱۷. شمېره حدیث.

عليه وسلم - غره ته يې وويل: آرام شه، پر تا له پيغمبر، صديق او شهيد څخه پرته بل څوک نشته.[1]

نو هغه د خپل ځان لپاره په نبوت او ابوبکر ته په رېښتينولۍ پرېکړه وکړه او پاتې نورو ته پر دې چې دوی به شهيدان وي، او په هغه څه يې چې خبر ورکړی و همغسې وشول.

او نږدې ۱۵۰ داسې حديثونه شته چې پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - پکې د خپل رب تعالی نه دعا کړې ده او سملاسي يې سوال قبول شوی پداسې حال کې چې خلکو ليده.[2]

او کله چې د مکې خلکو له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه وغوښتل چې دوی ته کومه نښه وښايي، نو سپوږمۍ يې ورته دوه ټوټې وښودله، تر دې چې دوی يې په منځ کې حرا وليده، دا حديث متواتر دی. يعنې د صحت له اړخه په لوړه درجه کې دی.

او رسول الله -صلی الله عليه وسلم- به په لويو غونډو لکه: جمعو او اخترونو کې د سورة القمر تلاوت کاوه؛ هغه سورت چې د سپوږمۍ د دوه ټوټې کيدلو معجزه پکې ده، تر څو خلکو ته د خپلو معجزو په اړه ور واوروي، او په خپلې رېښتينولۍ به يې پرې استدلال کاوه.

بيا د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- خبرول لدې چې آدم -عليه السلام- د ژونديو مخلوقاتو وروستی دی: «او آدم عليه

---

1 دا حديثونه سعيد بن عبدالقادر باشنفر په خپل کتاب دلائل النبوة کې راټول کړي او دا کتاب د دار ابن حزم چاپ دی.

2 صحيح الجامع، ۸۱۸۸، شميره حديث.

السلام يې د جمعې په ورځ د ماسپښين له لمانځه څخه وروسته پيدا کړ، د پيداينت په اخر کې».[1]

دا خبره اوس- په علمي لحاظ ثابته شوې ده، ساينس ثابته کړې ده چې انسان د ځمکې پر مخ وروستی ژوندی موجود دی، نو څنګه پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - پوه شو چې ادم - عليه السلام- وروستی مخلوق دی؟ چې په ځمکه کې د نباتاتو او حيواناتو له ظهور نه وروسته راښکاره شوی؟

او د الله تعالى دې وينا ته پام وکړه:

{وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ ۖ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً}

{وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ ۖ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً}

(او موږ شپه او ورځ دوه نښې جوړې کړې دي، بيا موږ د شپې نښه تته وګرځوله او د ورځې نښه مو روښانه وګرځوله). الاسراء سورت ١٢ آيت.

فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ: يعنې سپوږمۍ چې د شپې نښه ده -په لومړي سر کې- ځلېدونکې وه، بيا يې رڼا لرې کړی شوه.

او دا هغه څه دي چې صحابه کرامو پرې مبارک آيت تفسير کړی، امام ابن کثير په خپل تفسير کې روايت کړی چې

---

1 http://www.nasa.gov/mission_pages/LRO/news/vid tour.html- https://www.youtube.com/watch?v=UIKmSQqp8wY

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايلي دي: سپوږمۍ به د لمر په څير ځليدله، او هغه د شپې نخښه وه، نو بيا يې رڼا له منځه لاړه".

او عجيبه خبره دا ده چې ساينس هم نن دې پايلې ته رسيدلی، ناسا په خپله رسمي ويبپاڼه او رسمي چينل خپاره کړي دي چې: د سپوږمۍ د ژوند لومړۍ دوره، داسې وه چې هغه يوه پکې ځلانده روښانه وه.[1]

په تواتر ثابته شوې چې د غيبو نخښانې او خبرونه او د ځمکې او آسمانونو کره بې شمېره رازونه، د يو انسان په لاس واقع کيږي چې هغه پيغمبر صلی الله عليه وسلم دی او قرآن پرې نازل شوی، او په هغه څه سره يې راتګ کړی چې پخواني پيغمبران پرې وو، او د هغه ملاتړ د الله لخوا شوی دی، او تر هغه پورې مړ نه شو تر څو چې شريعت بشپړ او کامل شو.

پدې قطعي پريکړه چې هغه نبي دی، د عقل په هوښيارتيا دلالت کوي.

د هغه - صلی الله عليه وسلم - غيبي نخښې له زرو اوړي.

او د معجزو نقلوونکي د هغه صحابه دي؛ له هغه وروسته تر ټولو ريښتوني او نيکان خلک.

د حيرانتيا خبره خو دا ده چې مشرانو صحابه کرامو ايمان راوړ مخکې لدې چې معجزې وګوري هغوی اسلام راوړ

1 ثبوت النبوات عقلًا ونقلًا، ابن تيميه، دار ابن الجوزي، ۵۷۳ مخ، او په همدې معنا سره په هماغه سرچينه کې، ۳۱۸ مخ.

ځکه هغوی پوهیدل چې نبي کریم محمد -صلی الله علیه وسلم- ریښتونی دی او هغه هیڅکله دروغ ندي ویلي.

د سترو صحابه کرامو دغه دریځ یو هوښیار فکري دریځ دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت د اثبات لپاره کافي، حقیقي او خپلواک ثبوت د هغه ریښتینولي ده... دا ځکه چې: هغه څوک چې د نبوت دعوه کوي، یا خو: په خلکو کې تر ټولو ریښتیني وي، ځکه چې هغه نبي دی... نو پیغمبر د خلکو تر ټولو ریښتینی وي.

یا هغه خو هغه تر ټولو خلکو درواغجن وي، ځکه چې هغه د ډیرو مهمو مسئلو په اړه دروغ جوړوي.

او هیڅکله ریښتیني خلک له دروغجنو سره نه ګډیږي مګر د هغه چا په اند چې تر ټولو زیات جاهل وي.[1]

څومره آسانه ده چې یو عاقل انسان د ریښتوني او دروغجن انسان تر منځه توپیر وکړي.

او مشرکانو د هغه - صلی الله علیه وسلم - د بعثت په لومړیو ورځو کې اقرار وکړ چې هغه هیڅکله دروغ ندي ویلي، نو ورته یې وویل: "مونږ هیڅکله پر تا دروغ ندي تجربه کړي".[2]

او کله چې هرقل له ابو سفیان څخه له اسلام راوړلو مخکې وپوښتل: "ایا تا مخکې له دې چې هغه څه ووایي چې اوس وایي، کله په دروغو تورن کړی دی؟"

---

1 صحیح البخاري حدیث شمیره: ۴۹۷۱.

2 صحیح البخاري، : ۷ شمیره حدیث.

نو ابو سفیان وویل: نه

نو هرقل وویل: "هیڅکله به داسې ونه کړي چې په خلکو دروغ ویل پرېږدي او په الله دروغ ووایي".

بیا هرقل خپلې خبرې پوره کړې او خپله مشهور وینا یې وکړه: "که چېرته زه ورسره وم، ما به د هغه پښې وینځلې وې".

کفار لدې عاجز پاتې شول چې د هغه په ټول ژوند کې پرې یو دروغ ویل ثبوت کړي، لدې امله قرآن کریم هغوی و غندل چې کافران پاتې شول سره لدې چې هغوی له بعثت نه وړاندې د پیغمبر په حال پوهېدل، زمونږ پاک رب فرمایلي دي:

{أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ}

{أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ}. [یا که دوی خپل رسول نه دی پېژندلی، پس دوی له ده نه منکران دي]. المؤمنون سورت ۶۹ آیت.

د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - حالت او د هغه سیرت خپلواک دلیل پردې دی چې هغه پیغمبر دی.

صلی الله علیه وسلم.

که چېرته د ریښتینولی دلایل په عمومي ډول د هغه د نبوت تایدونکي وي نو بیا څنګه یو هوښیار هندو دا دروغ ګڼلی شي؟

***۲۱ - آیا په الله ایمان راوړل او پر پیغمبرانو کافرېدل بسنه کوي، لکه څرنګه چې ځینې هندوان یې کوي؟***

ځواب: نه.

د الله په شتون ایمان لرل او په انبیاوو ایمان نه راوړل بسنه نه کوي چې انسان دې الله ته غاړه ایښودونکی شي. نو دا څه معنا چې په دې ایمان ولرې چې الله خالق، رازق او چاره کوونکی دی، بیا يې په وحې کافر کیږې او د هغه له رسولانو څخه انکار کوي.

دا لوی کفر دی.

په حقیقت کې له دې څخه لوی جرم نشته چې الله ته خپل وحی بیرته رد کړي ( ویې نه منې ) الله تعالی فرمایلي دي:

{إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّـهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّـهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ أُولَـٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٥١﴾}

{إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّـهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّـهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾. (بېشکه هغه کسان چې په الله او د هغه په رسولانو کافران کیږي او دوی غواړي چې د الله او د هغه د رسولانو په منځ کې بېلتون وکړي او دوی وایي چې مونږ پر ځینو (رسولانو) ایمان راوړو او په ځینو کافر کیږو او دوی غواړي چې د دې (اسلام او کفر) په منځ کې (بله) لار ونیسي.

أُولَـٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٥١﴾}. دغه کسان په رښتیا کافران دي او مونږه د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی دی). النساء سورت.

نو څوک چې په الله ايمان ولري او په انبياوو كافر شي، نو هغه واقعاً كافر دى.

نو هر هغه څوک چې د پيغمبرانو له جملې څخه په يوه پيغمبر باندې كفر وكړي هغه الله باندې كافر شو، ځكه چې هغه د الله له وحې څخه انكار كړى دى، نو د يهودانو او نصاراوو په منځ كې اهل كتاب ځكه كافر شوي چې هغوى د محمد بن عبدالله صلى الله عليه وسلم په نبوت كافر وو.

{إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ أُولَـٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ}

{إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ أُولَـٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ}. (بېشكه هغه كسان چې كافران شوي دي، چې اهل كتاب او مشركان دي، (دوى به) د دوزخ په اور كې وي، چې په ده كې به تل ترتله وي، هم دغه كسان تر ټولو بد خلق دي) البينة سورت ۶ آيت.

او دوى لره د الله تعالى ګواښل چې اور ته به يې ننباسي په حقه دى.

{فَحَقَّ وَعِيدِ}

{فَحَقَّ وَعِيدِ}. (نو زما عذاب (پرې) ثابت شو) ق سورت: ۱۴ آيت.

نه اسلام او نه نجات يوازې پدې كې دى چې انسان دا ومني چې الله تعالى خالق، رازق، ژوندى كوونكى، مړكوونكى دى او بس، بلكې د هغه پر رسولانو باور هم اړين دى.

نو د الله په وجود ایمان او په پیغمبرانو کفر کافي نه دی او بنده ته د قیامت په ورځ د الله په نیز ګټه نه رسوي، ځکه چې باید د الله عبادت وکړي او د هغه پر ټولو رسولانو پوره ایمان ولري.

او که چیرته یوازې د الله تعالی په شتون ایمان بسنه کوله، نو الله به خپل پیغمبران نه و رالیږلي، او نه به یې کتابونه نازل کړي و، ځکه ټول انسانان الله په فطرت سره پیژني.

الله هغه ذات دی چې تاسو یې پیدا کړي یاست، لارښوونه یې درته کړې ده، او رزق یې در کړی دی، نو یوازې همغه ذات د دې وړ دی چې عبادت یې وکړې لکه څرنګه یې چې درته د پیغمبرانو له لارې روا کړی دی.

نو په ټولو انبیاوو او د هغوی په وروستي پیغمبر محمد بن عبد الله -صلی الله علیه وسلم- ایمان راوړل په کار دي.

### ۲۲ - الله تعالی ولې شر پیدا کړی دی؟ یا په بل عبارت: یو مسلمان د "شر ستونزې" ته څنګه ځواب ورکوي؟

ج: د شر فتنه په هندویزم کې تقریبا تر ټولو لویه ستونزه ده او د هندویزم فلسفه دا ده چې یو سړی تر هغه وخته پورې په کندړو کې ژوند کوي تر څو له بدۍ څخه خلاص شي، او هندویزم تکراري زیږون د هغې بدۍ لامل ګڼي چې انسان په مخکني ژوند کې تر سره کړې ده.

او دا ټول غلط دي، بدي له شک پرته په نړۍ کې شتون لري: ځکه چې مونږ مکلف یو.

ځکه چې مونږ د امتحان په نړۍ کې یو.

زمونږ پاک رب فرمايلي دي:

{وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً}

{وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً}

(او مونږ تاسو په شر او خير سره ازمايو). الأنبياء سورت ۳۵ آيت.

ښه او بد ځکه چې تاسو مکلف ياست، او تکليف ستاسو د وجود موخه ده.

الله تعالى فرمايلي دي:

{الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ}

{الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ}

(هغه ذات چې مرګ او ژوند يې پيدا کړي دي، د دې لپاره چې تاسو وازمايي چې په تاسو کې د عمل په لحاظ کوم يو ډېر ښه دی او هم دی ښه غالب، ډېر بخښونکی دی) الملک سورت ۲ آيت.

نو تر هغه چې موږ مکلف يو، نو دا طبيعي ده چې هلته به فتنې او مصيبتونه وي، او دا هم طبيعي ده چې په بدو پوه شو.

بدی، يو څه درد، او د نافرمانۍ کولو وړتيا طبيعي اړتيا او د آزادۍ ارادې او الهي مکلفيت ښکاره پايله ده.

د بديو، شر، آفتونو او شهوتونو موجوديت په ښه انسان کې تر ټولو ښه صفتونه او په بد انسان کې تر ټولو بد صفتونه راښکاره کوي.

نو د بدۍ تر ځنګه، مونږ له دومره ښېګڼو سره ژوند کوو چې نه شمېرل کيږي.

او نعمتونه چې نه شمېرل کيږي.

او بدۍ لږه ده، او د هغه لوی خير په ځنګ کې دا هم چليږي؛ چې مونږ پکې ژوند کوو.

که په دنيا کې بدۍ نه وای، نو له هغه ځای څخه به نه وای راوتی چې پکې زيږيدلی يې!

نو نه خو به تمدن وای، او نه به ښارونه، کارخانې او کورونه جوړيدل، او خلکه به کار کولو ته هم اړ نه وو، او نه به هم خلکو د ناروغۍ، ستونزې د حل په وړاندې د مقاومت فکر کولای او يا د يو داسې فکر اختراع کول چې سکون يې را جلب کړي!

او انسان به اړ نه و چې د خپل زيږون له ځای څخه اصلا بل ځای ته لاړ شي.

ځکه چې هيڅ شر نشته، او نه سترتيا شته، نه کوم مصيبت، نه کومه ستړيا، او هيڅ ستونزه نشته چې موږ يې د حل په لټه کې يو!

نو بيا ستړيا، بې خوبه کېدل، فکر کول او کار کول د څه لپاره؟

نو شر هغه اړتيا ده چې په دنيا کې ترې چاره نشته!

نو ژور فکر وکړه!

ډېرى خلک دي چې کله په مصيبتونو او بديو اخته شي، نو دوی بيرته الله ته رجوع کوي او نيکان جوړيږي، نو لوی الله لره پاکي ده او هغه د ستاينې وړ دی.

د الله تعالی په ټولو تقديرونو کې حکمت او خير وي، که څه هم ځينې يې په ظاهري توګه شر، مصيبت يا تنګستيا ښکاري، مګر په پای کې پکې لوی خير او ژور الهي حکمت نغښتی وي.

بدی د دې لپاره ده چې تاسو مکلف ياست، نه دا چې تاسو په تير ژوند کې ګناهونه کړي دي.

***23- د الله سبحانه وتعالی په وړاندې د تسليميدو نخښې څه دي؟ يا په بل عبارت: تاسو څنګه پوهيږئ چې تاسو الله ته مسلمان شوي ياست او په بشپړ ډول هغه ته په پوره تسليميدو سره تسليم شوي ياست؟***

ج: الله تعالی ته د تسليمېدو نخښې څلور دي:

لومړی: د خپل ژوند په هر کوچني او لوی کار کې د الله بندګي وکړه، الله تعالی فرمايلي دي:

{قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّـهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾}

{قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّـهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾

ته ووایه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العالمین لپاره دي.
لَا شَرِيكَ لَهُ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ {١٦٣}
د هغه هېڅ شریك نشته او ما ته د همدې (توحید) حکم شوی دی او زه تر ټولو مسلمانانو اول یم) سورة الأنعام.
زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ د الله رب العالمین لپاره دی: هر څه چې زه کوم د الله لپاره یې کوم، دا د الله په وړاندې د تسلیمیدو لومړنی نخښې او نښانې دي.
دویمه نخښه تر څو تاسو په بشپړ ډول الله ته تسلیم شوي یاست: د هغه څه پیروي کول دي چې الله پرې امر کړی او له هغه څه څخه ډډه کول دي چې هغه ترې منع کړې ده.
{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّـهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ}
{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّـهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ}
(اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د الله او د هغه د رسول حکم منئ او له دې (اطاعت) نه مه ګرځئ، حال دا چې تاسو یې اورئ). الأنفال سورت ۲۰ آیت.
او الله تعالی فرمایلي دي:
{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً}
{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً}
(اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په اسلام کې پوره پوره داخل شئ). البقرة سورت ۲۰۸ آیت.

في السلم يعني : په اسلام کې.

ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً: يعنې هر هغه څه چې الله پرې امر کړی پابند اوسئ او له هغه څه نه يې چې منع کړي ياست منع شئ.

په کوم څه چې الله ماته په قرآن کې د يو څه کولو امر کړی يا د هغه د رسول - صلى الله عليه وسلم - په سنتو کې د يو څه کولو امر کړی دی هغه کوم .... له کوم شي څخه يې چې منع کړی يم ، ترې منع کيږم ، نو دا الله تعالی ته بشپړ تسليميدل او غاړه ايښودل دي.

الله تعالی ته د تسليميدو دريمه نښه دا ده چې: موږ هغه څه ته غاړه کيږدو چې الله يې راته حکم کړی، نو د هغه په حکم خوشحاليږو او منو يې.

موږ د قرآن او د محمد - صلى الله عليه وسلم - په سنتو کې هر الهي قانون منو، ځکه چې الله ښه پوهيږي په هغه څه چې د هغه د بنده ګانو اصلاح پرې کيږي.

{أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ}

{أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ}. (آيا هغه ذات به نه پوهيږي چې يې (هر څه) پيدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډير باريك بين، ښه خبردار دی). الملك سورت ۱۴ آيت.

او الله پاک فرمايلي:

{وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّـهِ حُكْمًا}

{وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّـهِ حُكْمًا} (له الله نه (بل) څوك ډير ښه دی، د هغه قوم لپاره چې يقين کوي!) المائدة سورت ۵۰ آيت.

الله هغه ذات دی چې پو هیږي کوم کار د خلکو لپاره په دنیا او آخرت کې ښه دی.

د الله د قانون پلي کول خلک پاکوي او په خوندیتوب کې ژوند کول ور په برخه کوي.

الله تعالی فرمایلي دي:

{وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّـهِ}

{وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّـهِ} ﴿٦٤﴾ سورة النساء.

(او نه دی لیږلی مونږ هیڅ رسول مګر د دې لپاره چې د الله په حکم سره د هغه اطاعت وکړی شي). النساء سورت ۶۴ آیت.

الله رسولان د دې لپاره نه دي لیږلي چې موږ د دوی شریعت پریږدو او د نورو قانون ته غاړه کیږدو.

او الله پاک فرمایلي دي:

{فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا}

{فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا}. (پس داسې نه ده، ستا پر رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل منځ کې په پیښو جګړو کې تا فیصله کوونکی ومني، بیا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فیصلې په باره کې هیڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره یې ومني). د النساء سورت ۶۵ آیت: د الله قانون ته په بشپړ

ډول تسلیمیدل اړین دي، ځکه چې د الله قانون ته تسلمېدل، اسلام ته د غاړې اېښودلو یوه نخښه ده!

الله تعالی ته د تسلیمېدو څلورمه نخښه: د الله تقدیر ته تسلیمېدل دي، ځکه چې هر څه الله تعالی په خپل حکمت سره اندازه کړي دي، لدې امله مسلمان د الله په ټولو تقدیرونو کې ... په ښه او بد کې الله ته تسلیمیږي.

که مسلمان ته خوشحالي ورسیږي نو شکر کوي او که کوم مصیبت ورته ورسیږي صبر کوي.

نو هر امتحان د یو حکمت او تکلیف له مخې وي.

هر څه د الله پاک لخوا ټاکل شوي دي: روغتیا، ناروغي، شتمني، بې وزلي ... هر څه د هغه د تقدیر او حکمت سره سم دي، او مسلمان باید په تقدیرونو راضي وي ځکه چې الله د هغې اندازه کوونکی دی.

زمونږ رب سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

{إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ}

{إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ} ﴿٤٩﴾

(بېشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پیدا کړی دی) القمر سورت ۴۹ آیت.

او الله تعالی فرمایي:

{قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّـهُ لَنَا}

{قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّـهُ لَنَا} ﴿٥١﴾

(ته (دوی ته) ووایه: مونږ ته به له سره مصیبت راونه رسیږي مګر هغه چې الله زمونږ لپاره لیکلی دی). التوبة سورت ۵۱ آیت.

مونږ ته به هیڅ نه رارسیږي مګر هغه څه چې الله زمونږ لپاره ټاکلي وي.

او الله تعالی فرمایلي دي:

{وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّـهِ}

{وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّـهِ} ﴿١٤٥﴾

(او هېڅ یو نفس لره دا اختیار نشته چې (پخپله) مړ شي مګر د الله په ارادې سره) آل عمران سورت ۱۴۵ آیت.

اجلونه الله ټاکلي دي.

هر څه چې په کایناتو کې پیښیږي، او هره ذره چې په نړی کې خوځښت کوي او هره پیښه چې پیښیږي د الله په علم او د هغه په اراده، حکمت او قدرت سره پیښیږي.

زمونږ رب سبحانه و تعالی فرمایلي دي:

{ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا}

{ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا} ﴿٢﴾

(او هر شی یې پیدا کړی دی، نو هغه یې په اندازه کړی دی، اندازه کولو سره). الفرقان سورت ۲ آیت.

هغه پاک ذات دی چې هر څه یې پیدا کړي او هر څه یې اندازه کړي دي او هغه څه چې وغواړي هغه کیږي او څه چې ونه غواړي هغه نه کیږي.

زه د يو مسلمان په حيث د الله تعالی ټولو احکامو ته غاړه ږدم.

په دې توګه يو سړی د الله په وړاندې مسلمان ګرځي.

***بالاخره! زه څنګه په اسلام کې داخل شم؟***

اسلام ټول بشريت ته د الله تعالی دين دی، الله تعالی فرمايلي دي:

{إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّـهِ الْإِسْلَامُ}

{إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّـهِ الْإِسْلَامُ}

(بېشکه (معتبر) دين د الله په نيز اسلام دی) آل عمران سورت ۱۹ آيت.

اسلام هغه دين دی چې الله تعالی له هغه پرته بل دين نه مني.

{وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}

{وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}

(او څوك چې له اسلام نه غېر (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانيانو څخه دی). آل عمران سورت ۸۵ آيت.

لدې امله په هر هندو او غير هندو انسان واجب دي چې اسلام قبول کړي.

په اسلام کې له اور څخه خلاصون او د الله د رضایت او جنت لاس ته راوړل دي.

په اسلام کې داخلېدل يو له سترو نعمتونو څخه دي، بلکې دا ستاسو په وجود کې تر ټولو لوی او مهم شی دی.

اسلام په حقيقت کې فطرت او عقل او ويداس ته ورګرځيدل دي.

اسلام ته داخلېدل آسانه دي او رسمي مراسم او چارو ته اړتيا نه لري، يوازې انسان بايد دوه د شهادت (ګواهۍ) کلمې ووايي، هغه دا چې: أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا رسول الله. زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او زه شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی.

په دې توګه هغه مسلمان شو.

بيا د اسلام په عملي کولو پيل کوي.

زه سپارښتنه کوم چې د اسلام هاوس ويب پاڼه تعقيب کړئ، هر يو د خپلې ژبې مطابق، ترڅو نوی مسلمان زده کړي چې څنګه بايد اسلام تطبيق کړي.

د ويب پاڼې لينک: https://islamhouse.com/ar/

فهرست


هندویزم د خپلو اصلي تعلیماتو، عقل او سالم فطرت په تله کې ......... 2
هندویزم څه شی دی؟ -۱ ........................................................ 11
دغه دین څنګه له یو بل سره نښتی پیدا شو؟ -2 ........................... 12
په ځانګړې توګه د هندوانو عقیده څه ده؟ -۳ .............................. 13
په هندویزم کې په لسګونو بوتانو سره د یو خدای د استازولۍ -۴ مفکوره څنګه رامنځته شوه؟ ........................................................ 17
هندوان د خالق او مخلوق تر منځه اړیکي ته په کوم نظر ګوري؟ -۵ ........................................................................................ 21
هندویزم ژوند او مرګ ته په کومه سترګه ګوري؟ -۶ .................. 28
د هندوانو په نیز د تکراري زیږونونو او د ارواګانو لیږد نظریو -7 سرچینه څه ده؟ ................................................................. 33
هندوان کائناتو ته په کوم نظر ګوري؟ -۸................................... 36
د هندویزم له نظره د انسان بدن له څه شي څخه جوړ شوی دی؟ -۹ 38
د هندو ټولنې انځور څرنګه دی؟ -۱۰ ....................................... 43
آیا هندوان په رښتیا د غواګانو عبادت کوي؟ -۱۱ ........................ 50
خو په هندویزم د پرهیزګارۍ او له ګناه څخه د ځان ساتلو لپاره -12 ډیرې هڅې شته، آیا دا یوه ښېلوونکې نخښه نده؟.......................... 52
مګر آیا په هندویزم کې بشپړ آرامتیا او مراقبت ښه شی نه دی؟ -13 ........................................................................................ 53
په کنډوالو کې په ګوښه کېدلو کې څه عیب دی لکه څنګه چې په -14 اوسني هندویزم کې پیښیږي؟ ................................................ 56
د شهوت پر وړاندې مقاومت او له ګناهونو څخه د خلاصون غوره -۱۵ لاره کومه ده؟ ...................................................................... 59
اسلام ولې هندویزم ردوي؟ -۱۶ ............................................ 62

۱۷- ولې په هر هندو فرض دي چې اسلام راوړي؟ .................... 68
۱۸- اسلام څه شی دی؟ ............................................................ 83
۱۹- آیا په اسلام کې هغو پوښتنو ته ځواب شته چې ذهنونه یې په ځواب کې حیران پاتې دي چې :موږ له کوم ځایه راغلي یو؟ موږ ولې دلته په دې نړۍ کې یو؟ او برخلیک مو چیرته ته دی؟............................ 86
۲۰- ته څنګه پوه شوې چې محمد - صلى الله عليه وسلم - د الله لخوا رسول دی؟................................................................................... 88
۲۱- آیا په الله ایمان راوړل او پر پیغمبرانو کافرېدل بسنه کوي، لکه څرنګه چې ځینې هندوان یې کوي؟............................................102
۲۲- د مسلمان یو :عبارت بل په یا دی؟ کړی پیدا شر ولې تعالى الله " شر ستونزې "ته څنګه ځواب ورکوي؟....................................105
23- د الله سبحانه وتعالى په وړاندې د تسلیمیدو نخښې څه دي؟ یا په بل عبارت :تاسو څنګه پوهیږئ چې تاسو الله ته مسلمان شوي یاست او په بشپړ ډول هغه ته په پوره تسلیمیدو سره تسلیم شوي یاست؟.........108
بالاخره !زه څنګه په اسلام کې داخل شم؟ ...............................114